پرلەپسی گڼە (٤٣١)

# د صحت ورځ

پښتانه پوهان په خپلو روایاتو کښې انسانی هستی سلطنت ته ورته بولی او دغه سلطنت له دووارکانو مرکب گڼی چه یوه ته دبدن فزیکی ساختمان او بل ته عقل او شعور وائی لکه چه : دغه خبره دارغونو پښتنو په دغه وجیزه کښی «روغ صورت نیمه پاچاهی ده» پوره تمثیل شوی ده .

بوعلیسینا دحکمت، طب او فلسفی نابغه هم په دې باب همدغه نظریه لری او وائی چه:

«دانسان بدن مملکت دی او ددغه مملکت سینگار وزرغونتیا دبدن او عقل په صحت کښی مونده شی .»

دی په بل عبارت بدن ته ماده، سم تفکر او سلامت عقل ته جوهر وائی او د جوهر مقام په دغه بدن کښی ښئی، دی له همدغه امله د بدن پالنه ډیره داعتنا وړ بولی او د عقل وفکر سلامتی په دغه قالب پورې مربوطه گڼی .

نوددې نه دا څرگنده شوه چه دبدن دسلامتی خیال ساتل دژوند د ساتلو حکم لری، په دې چه روغ او سلامت بدن دتعقل او تفکر روغتیا ساتی او دغسی سم ماغزه او بی عیبه تفکر درښتینی ژوند (ښه ژوند) سبب او دډیرو گوډو او ړندو کارو دصحت او سلامتیا موجب کیږی

دنیا په تیره بین المللی نړۍ په دې وروستیو کلو کښی ښه فکر کړی دی چه دغه دبشریت دتمدن او ترقۍ بوټی (صحت) ته ئی په درنه کتلی (دهغه داوبولو او پالنی ښه تجویزئې کړی) او دصحت په نامه ئې یوه بین الاقوامی موسسه ټاکلی او د هر کال (دحمل ۱۸) ورځ ئې ددغه ستر انسانی خدمت داحتفال دپاره مخصوصه کړی ده .

**کابل مجله** هم د «صحت» بین المللی موسسی ته په درنه گوری او دهغې مجاهدی دعامه صحت دتامین په لار او دبین المللی ترقۍ په تکل کښی د ښې اغېزې او اثر سبب گڼی او د صحت دورځی ډېر ډېر هر کلی کوی .

(۲۷ کال) (۳) گڼه

# کابل

## پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

## د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م،د،«ژواك»

پته: د محمد جانخان واټ دلیك او اصول د پخوانی ښوونځی تر څنگه

د تیلفون لمبر ( . . . )

د ۱۳۳۶ کال

# د ثور

اوله

د ۱۳۷۶ دروژي (۲۱)

د ۱۹۵۷ داپریل (۲۱)

## د دی گڼی


| لیکوال | مضامین | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱- ژواك | دثور اوله | (۱) |
| ۲- ښاغلی رحیمی | دغرب تمدن | (۳) |
| ۳- « بختانی | غزاوشوه | (۵) |
| ٤- « ننگلامی | نوی موسم ... | (۱۲) |
| ۵- « رشاد | ملامحمد صدیق | (۱٤) |
| ٦- « واسعی | ادب په تناره کښی | (۱٦) |
| ۷- « ساپی | کاراو کاریگر | (۲٤) |
| ۸- « پسرلی | دخیال دنیا | (۳۲) |
| ۹- « اتمان | روکیه | (۳٤) |
| ۱۰- « شینواری | لوی څښتنه | |


نوټ: لمړۍ پشتۍ پوه کلیواله پیغله د کلیوالی ژوند سره ښئی.

عکسونه: د وې قطعی.

# دثور اوله

زما په ژوند کښې څلوېښت
واره داورځ (دثور اوله) راغلې ده
مګر نور ماته یو تاریخی
حیثیت نه لری، صرف یوه ورځ ئې
زه دیا دولوور بولم او هغه د
پروسبز کال دثور اوله روځ وه دا ځکه
چه پرو سبز کال همدغه روځ وه
چه زه دخپل ژوند د فردی او
اجتماعی مسئولیت نه علاوه
دیوه بل مسئولیت سره مخامخ
شوم او هغه مسئولیت د کابل
دمجلې ؤ- ګوری ء! انسان هر
وخت د روز مره حساب سره
مخامخ کیږی مګر سره له دې
دحساب دروځی څخه ډېر بېریږی
او په ژوند کښې دحساب دروځی
غم دلته یا پردې دنیا لاخوری .
پردې خبره تعجب مه کوی ء
دا ډول شرم حضور له انسان
سره شته او د پښتو په اصطلاح
شرم په ستر ګو کښې وی یعنی
تر کوم وخت پوری چه سړی سایل
نه وینی نو د مسئولیت نه هم
چندان وهم نه ورته پیدا کیږی
خو کله چه تر استنطاق لاندی
شی نو هغه وخت دا بیره پرده ښه
ترا مستولی شی او که همدغه بېره
پخوا تر سوال، ده یقینی بللای
تاسی یقین وکړی ء چه یو انسان
به هم د کوم جرم نه مرتکب
کیدلای- همدغه وجه ده چه ماته
دا روځ د نورو ثورونو په شان
ښکروره او زوروره نه ایسی او نه
دومری په یاد راځی- که تاسی
پرما د مبالغه و یونکی حکم
نه کوی نو دا ثور وماته هم اسدؤ
او هم عقرب صرف نوم ئې ثور
شوی و او دثور په نامه ئې زه
تېروتلی وم سره له همدې تېروتلو
چه بیا هم فکر وکړم نو دا ثور
دومری لوی او مهم راته ښکاره
شی چه دمځکی دتکیه کوونکی
ثور دښکر قوت ژر ترژره را یاد
کړی. په هرحال زه دا ثور یو نه
هېرؤنکی ثور بولم او زما په
ژوند کښی ماته د هغه لوی او
قوی ثور په شان لوی ښکاره
شوی دی چه مځکه ئې پر
خپل ښکر تکیه کړی وه
او تر ډېری مودې پورې.
ګرانوو روڼو !
ماخوتاسی ته دثور قصه په
لنډ ډول وکړه اوس به نو دا خبره
هم څرګنده کړم چه ولی
وماته هغه ثور چه قدم ئې دغنم
یوه دانه په سبع سنابل بدلوی
د ومری دوهم او بیری موجب شو
دا ځکه چه زما ذاتی قوت څه
شانتی کم ښکارېده او د خپلی
کمزوری څخه دنامرادی سره
مخامخ شوی وم دا خبره خو به
تاسو ته هم معلومه وی چه
ما شومیت ډېر خوږ شی دی او ځکه
خوږ ښکاری چه د سړی غم
پر بل وی خو که د همدغه
ما شومیت حال تاسی له هغه یتیم
نه وپوښتی چه غم ئې پر خپل
سروی تاسو ته به هم دما شومیت
اصلی راز معلوم شوی وای
مګر څرنګه چه دژوند بار د پلار
پر اوږووی نو هر هر څوك په
ما شومیت پسی ارمان کوی
دفردی ژوند او اجتماعی ژوند
حال هم همدغه شان وی او دی .
تر همدغه ثور دمخه زه او زما حال
دفردو، مګر په همدغه ثور کښی
وماته یو اجتماعی بار را دغاړی شو
او اجتماعی بار وړل ډېر زور غواړی

څرنګه چه زما قوت ډېر لږؤ او بار ډېر دروند، نو ځکه زما فریاد او چیغار زما د قلم په څوکه تاسی اوریء او لوستلای ئې هم شیء.

ورونو! زه نه وایم چه ما په همدې یوه کال کښې څه وکړه او څرنګه ـ اقلاً که د څرنګه حال تاسی ته نه وی معلوم نود «څه کړو» ماجرا خو تاسی په ستر ګو ولیدله او علم مو هم پرې راغی مګر دومری باید ووایم چه زه د ډېر و مشکلاتو سره مخامخ وم.

دا مشکلات ډېر درانه وو یا دا چه فردی خواهشات بیل رنګ لری او اجتماعی مشکلات بل شانتی ډول.

دادې هم تاسو ته معلومه وی چه زما پخوانی ملګری ترما ډېر قوی وو او د ډېر لوی طاقت خاوندان، دوی تر ډېره حده زما دلاری مشعل ګرزېدلی وو مګر بیا هم زما کمزورتیا د دوی هغه تیرو خدمتونو او ښو کارونو نه شوای تکمیل کولای دا ځکه چه اجتماعی خدمت بس نه لری او نه ئې وخدمت ته څوك بس ویلای شی، څرنګه چه اجتماعی خدمت بی بسه دی نوزه په همغه شان کمزوری او کموا کی پاتی شوی وم.

دا خبره دې هم تاسو ته څرګنده وی چه زما زړه له همدې خدمت نه نه دی سوړ شوی او نه سړېدل لری خو خبره داده چه انسان هر وخت دویاړ او افتخار غوښتونکې دی او لکه څرنګه چه هېڅ وخت په مادی لذتونو نه دې موړ شوی په معنوی خوندونو هم نه مړیږی او دا معنوی خوند زه اجتماعی خدمت بولم او دژوند څخه ترمرګه، خودا چه کله کله انسان شاکی شی د همدې شکایت معی دا نه ده چه زه نور خدمت نه کوم بلکه معنی ئې داده چه زه د خپلو خواخوږونه نوره مرسته غواړم او زیاته.

زما دا تر اوسه خدمت مایونها ئی شی نه دی بللی او نه په نهایت ورته قایل یم بلکه زه همدغه دروند بار دمیږی پشان وړم او ترژونده مګر دا هم وایم چه دا خدمت او یوازی د ځان خدمت یو رنګه نه بولم او خپل همدغه مسئول نوم ته په دومری بسی پروایی نه شم کتلای چه ځان نا مسئول وبولم ـ زه مسئول یم او و خپلو ټولو پښتنو ته زه مسئول یم وهغه چا ته چه زما ومسئولیت ته حتی په مسئولیت لا نه یی قایله، زه مسئول یم وهغو ته چه زما مسئولیت هرګز ادا نه بولی.

زه مسئول یم و هغو ته چه همدغه موجود خدمت دستړیا بولی، او زما برائت هم تر یوی اندازی حاصل بولی، زه مسئول یم او له همدغې روځی نه، او دا هم وایم چه زه وهمدې مسئولیت ته ملتفت یم خو ادائی تر خپل قدرت لوړه بولم، په آخر کښی له ټولو هغو بزرګوارو څخه شکریه کوم چه زما د مسئولیت د رفع دپاره ئی زه د مضامینو په رالیږلو نه یم هیر کړی او د هغو محترمو څخه چه وماته ئی زما د نور خدمت په خاطر ستړی مشی ویلی.

د هغو پیاوړو څخه چه زه ئی هغه څوك بللی یم چه که تنقید پرو کړو نه چه په قهر نه شی ـ که څه هم زه په همدی لار کښی تر یوه حده اماده هم وم ځکه زما د کار د ښه والی او بد والی سؤ اثر او بده اغیزه په ما پوری یوازی مختص نوو بلکه د دې کار تعلق له ټولی پښتو نخوا سره ؤ والسلام.

ژواك

ښاغلی غلام سرور رحیمی :

# دغرب تمدن

## ۷ برخه

اولنی پیړی:

سیسرو :

دیو نان قدیمی تمدن دغرب دتمدن ، ادبیاتو ، فلسفی سیاست اوفنونو اساس ګڼل کیږی چه دمشهورو علماؤ نظریی ئې دمخه ولیکل شوی ، اما روم اودهغه علماؤ داصول ، قانون اواداری درس ددنیا په یادګار پرې ایښی دی چه مونږ دلته د سیسرو نظر په لیکو :

سیسرو په ۱۰۶ او ۴۳ ق م کښی ژوندون کاوه او هغه طبیعی قانون چه دسوفسطایانو له خوا وړاندی شوی و ، ده تکمیل کړی دی او ددی طبیعی قانون اساس ئی استدلال اوعدالت ګڼلی دی. دې قانون دروم دامپراطوری سره ارتقا اونمو وکړه او داخلاقو دقانون په نامه معرفی شو .

داداخلاقو قانون دکلیسا مشرانو اوروحانی اشخاصو هم ومانه اوهغه ئی تطبیق اواعلان کړ دوی هم وویل چه بشر دطبیعی قانون پراساس مساوی خلق شوی او باید دانسانانو سره عادلانه رفتار وشی. داقانون دغرب په تمدن کښی شامل شو اوپه هغه کښی ئی لوی رول ولوباوه.

سیسرو معتقدؤ چه دحقیقی عدالت اساس قانون دی او قانون هغه بهترینه وسیله ده چه د هغه په واسطه انسان دښه او بد تمیز کوی ، نو قانون د وجدان آواز دی .

دسیسرو په نظر په انسان دقضاوت ، عقل ، استدلال او ذکاوت قواوی لری اوهغه شی چه انسانان دنور و مخلوقاتو څخه ممتاز کوی هغه استدلال ، تفکر ، او تعقل دی. دسیسرو دا نظریې په اتلسم قرن کښی دنورو مشهورو علماؤ دفلسفی اساس شوی دی اوهغو دغه نظریی عملا تطبیق کړی دی. دا علماء په RAtionalists سره مشهور دی او فلسفه ئی Rationalism ده. ددوی په عقیده چه انسان معقول مخلوق دی اوسلیم عقل لری نو باید انسان هیڅ شی په پټو سترګو قبول نه کړی او دهر شی په باره کښی دلیل او برهان وغواړی ، هغه چه معقول او دده عقل قبول کړی هغه قبول کړی او هغه چه دده عقل قبول نه کړی او یا استدلال پکښی نه وی هغه و نه منی.

دسیسرو په عقیده انسان دعدالت دقائمولو دپاره خلق شوی دی او په ژوند کښی دانسان هدف دعدالت قیام دی ، نو دسیسرو په عقیده دانسان دژوند هدف دعدالت قیام او ټینګول دی.

سیسرو وائی چه هیڅ شی زمونږ حواس نشی ګمراه کولای مګر جاه طلبی ، خودخواهی خورابده وسیله ده چه انسان ګمراه کوی او عدالت او مساوات دمنځه وباسی که څه هم عدالت او مساوات پخپله احسن دی او هر څوک بیله مکافات دهغه غوښتونکی دی.

قانون دعقل او استدلال نتیجه ده نو دهری جامعی خلک مکلف او مجبور دی چه هغه د خپلی خوشحالی ، صیانت ، عدالت او مساوات دپاره تدوین او تطبیق کړی .

سیسرو د اقتصاد په باره کښې هم نظریې ور کړې دی او زراعت ئې په ښه ستر ګه کتلی دی دده دغه نظریه په اتلسم قرن کښې یو ټولی علماو وچه طبیعیون دی د خپلو اقتصادی نظر یو اساس کړی دی او زراعت ئې پر صناعت او تجارت ښه او مهم بللی دی او زارعین ئې حقیقی مولدین بللی دی . د طبیعیونو د (فزیوکرات) په نظریه حقیقی ثروت زارعین تولیده وی صناعت ددی تولیداتو رنګ او شکل بدلوی او د تجارت په واسطه دا ثروت دیوه ځایه بل ځای ته ورل کیږی نو حقیقی مولدین زارعین دی . مثلا زارعین پنبه تولیدوی چه حقیقی ثروت دی. صنائع فقط دهغه شکل بدلوی تو کران جوړه وی او تجار هغه دیوه ځایه بل ځای ته نقل کوی.

سیسرو وائی چه: د تجارو طبقه مجبوره ده چه د فریب او حیلی څخه کار واخلی .

سیسرو د قیمت د کنترول، د پیسو د خاصیت، مالیات، د آزاد تجارت د نقائصو په باره کښې هم نظریې ور کړې دی . غلامی ئې منلی او ضروری ئې ګڼلی ده. د کار د تقسیم او ویشلو مفاد ئې هم ښودلی دی چه په اتلسم قرن کښې « ادم سمت » د اقتصاد پوهاند پرهغه تبصره کړی ده او د سود اضرار ئې بیان کړی دی.

سیسرو د شخصی ملکیت طرفدار دی او شخصی ملکیت ئې منلی دی .

# غزاوشوه

**پهدې ورځو کښې کوز پښتانه اوبرپښتانه درحمان بابا دتلین مراسم پهځای کوی او مشاعرې کوی ـ زه غواړم چه درحمان بابا دیوې ادبی اصطلاح پهباره کښې کابل مجلې ته یوه ادبی څېړنه وړاندې کړم ـ د ۱۳۳۶ د حمل ۵ ـ ننګرهار ـ عبدالله بختانی**

هغه وخت چه ښاغلی عتیق الله «معروف» د «آریانا» مجلې مدیرؤ د «غزاوشوه» دجملې پهباره کښې چه درحمان بابا پهاشعارو کښې راغلی ده پهآریانا مجله کښې یوه پوښتنه و کړه، دهویل چه دمطالبو دښکاره کولو دپاره لوی شاعران پخپلو اشعارو کښې ځینې اصطلاحات لری چه که شرح ئې نهوی شوی تحلیل ئې مشکل وی اودغسی مشکلات اکثراً دزمان او امکان له تفاوت اوتغیر نهپیدا کیږی نوباید چه داد ب څېړونکی ئې ترڅېړنی لاندې و نیسی.

دهد «غزاوشوه» داصطلاح پهباره کښې د لیکو الو معلومات او نظریات دنشر دپاره غوښتی و، اوخپل معلومات اوتوجیهات ئی هم لیکلی و.

ده لیکلی ؤ:

د «غزا وشوه» اصطلاح د پښتو د نو رو شاعرانو پهشعرونو کښې زما له نظره نهده تېرهشوې، یوازې د علیخان پهدیوان کښې پهدری بیتونو کښې راغلی ده. امارحمان بابا تقریباً پهلسوغزلونو کښې کارولې دهچه لاندې لیکل کیږی:

۱ـ که مکان ئی پهاسمان دی غزا وشوه
ستاره پهشمس قمر نهشی هرگز
(درحمان بابا دیوان دپېښور چاپ ۳۸ مخ)

۲ـ که ئی تاج وی پهسر اینبی غزا وشوه
پهنظر زما هدهدی یا خروس
(۵۳ مخ)

۳ـ زړه مې ستا پهغمزه غوڅ دی غزا وشوه
که پهلاس او پهپښور وغ یم خو گرم نه یم
(۵۳ مخ)

۴ـ غزا وشوه که گفتار کوم پهژبه
زه رحمان چه کردار نه لرم کذاب یم
(۵٤ مخ)

۵- هیڅ حاجت د نصیب نشته و هنر ته
غزا و شوه که مهمند که داء و دزی شوم
(۵۵ مخ)

۶- د غلو زی لباس و که غزا و شوه
شهد نه دی چا موندلی بی زنبور
(۹۹ مخ)

۷- د مرده ؤ په حساب وی غزا و شوه
که څرګند ژوندی لیدی شی په پیری کښی
(۱۱۶ مخ)

۸- غزا و شوه که لحان ستا بی و رحمان ته
بی هنر و ګا و وخر دري واره یو دی
(۱٤۵ مخ)

۹- مراد خو واره دلبری ده غزا و شوه
که د سرو په شان څوك په قامت لوړشی
(۱٦۰ مخ)

۱۰- که د زرو په تخت کښینی غزا و شوه
و فهیمو ته کم فهم او بی عزت دی
(۱۷۲ مخ)

دا د رحمان بابا دلسو غزلونو لس بیتونه وو چه د «غزاوشوه» اصطلاح یکښی راغلی ده اوس دعلیخان هغه اشعار چه دا اصطلاح یکښی راغلي ده ذکر کیږی : (۱)

۱- په هغه غزل کښی چه مطلع ئی داده :

تن په مخ د زمکی مخ د حبیب نشته
چه په مخ کښی ئي بد مخی رقیب نشته

داسی وایی :

محرو ما نو ته شنه غزدی غزا و شوه
که ئی قد غوندي بل نخل عجیب نشته

---

(۱)- دعلیخان دیوان دلاهور چاپ ۱۹۳۹ع -دقاضی عبدالسلام په اهتمام .

۲ - په بل غزل کښې چه مطلع ئې داده :

چه کالبد اره راغلی زماروخ
اور د مینی دی داغلی زما روح

داسی وائی :

غزاو شوه که ئی نه وینم په ستر گو
ما اول و پیژندلی زما روح

( ۱۶ - ۲۷ مخ )

۳ - دلربا کله دلبروه غزاو شوه
که ئی نازاو کرشمه ددلبری کړه

( ۳۲ - ۳۳ مخ )

اوس مو چه درحمان بابا او علیخان شعرونه و کتل راځو د «غزاو شوه» دا صطلاح توجیه ته :

**لومړی توجیه :** دا اصطلاح نن بیخی غورزېدلې ده ما د افغانستان د مختلفو ولایاتو له پښتنو نه پوښتنه کړې ده ، نن په هیڅ ځای کښې مستعمله نه ده اودومره نا اشناده چه څوك د هغه په باره کښې بی له تخمینه خبری اترې نه شی کولی همدارنګه په زغرده نه شو ، ویلی چه دا محاوره په کوموقومونو کښې او ترڅه وخته پورې وه او تر رحمان بابا او علیخان وروسته تر کوم وخته پوری ژوندی وه ، خو دپورتینو بیتونو د لوستلو په وخت کښې په اول نظر دلوستونکی په ذهن کښې ددې محاوری داسی معنا گانی گرځی : (څه وشوه ؟ - فرق نه کوی - څه اهمیت لری ؟ - په داڅه شوه ؟ - داڅه خبره نه ده - داڅه مهمه خبره ده ؟ - فرق نمیکند - ارزشی ندارد...) او دا معنا گانی درحمان بابا او علیخان په اشعارو کښې سمون خوری . سره د دې دا معنا گانی تخمینی او حدسی گڼلی شو نه قطعی او یقینی .

په دی باره کښې د ښاغلی محمد گل نوری (دپښتو اصطلاحات او محاورې) دښاغلی محمد اعظم ایازی (لس زره پښتو لغتونه) او دمحترم محمد گل مهمند (پښتو سیند) ته مراجعه وشوه همدارنګه دراورتی د کشنری پښتو په انگریزی و کتل شوه خو په دی باب کښې څه معلومات ئی رانه کړل . په هرصورت څرنګه چه مونږ دنور و نظریات غوښتی دی تردی زیات تفصیل ته ضرورت نه وینو او دلومړنۍ توجیه عیب ښکاره کوو .

**دلومړنۍ توجیه عیب :** څرنګه چه ظاهراً د «غزاوشوه» اصطلاح دعربی او پښتو دوو

گلمونه جوړه ده او د (غزا) د کلمی دمتعددو معنا گانو دپیدا گولو دپاره دلغت معتبرو کتابونو ته لکه فرهنگ انند راج دوهم ټوک، دمرحوم فرید وجدی دائرة المعارف او م ټوک، المنجد، دستنگاس د کشنرۍ ته مراجعه وشوه په ترتیب سره دامعنا گانی ور کوی.

ددین له دښمن سره جگړه، اراده، طلب، له دښمن سره جگړه دهغه په خاوره کښی، دښمن ته سړی استول، قصد، غوښتل .... داده چه د «غزا» د کلمې لغوی او اصطلاحی معنا گانی په عربی، فارسی او پښتو کښې و گورو او بیا د «غزا وشوه» په اصطلاح کښی خپله پورتنۍ جوړه کړې توجیه سمه و گڼو، نو گور و چه د (غزا) د کلمی لغوی، حقیقی، اصطلاحی او مجازی معنا گانې سره نه کومه رابطه لری او نه کومه قرینه او نه څه لوازم موجود دی. حال داچه بایدپه لیرې یا نژدی صورت سره داشیان موجود وای. نو ځکه زمونږ په لومړنۍ توجیه کښی داښکاره نقص موجود دی او دغور وړده.

د وهمه توجیه: داتوجیه هم باید دلومړنۍ توجیه غوندې قهراً تخمینی او حدسی وی او هغه داسی ده چه شایددعربی (قضا) کلمه مفغنه شوی وی او (غزا) ترې جوړه شوی وی. په دی ترتیب چه اکثر (ق) په (غ) اوړی. دبلی خوا نه د (ض) تلفظ هم د (ز) غوندې دی او په دغسی ځایونو کښی دا او ښتنی طبعی دی. (۱)

نو که «غزاوشوه» د «قضاوشوه» اوښتی شکل دی معنائی درحمان بابا او علیخان په اشعارو کښی سمون خوری، ددې مطلب داثبات یاتوضیح دپاره دوه دلیلو نه لرو:

۱ - دستنگاس په فارسی او انگلیسی فرهنگ کښی د (غزا) د کلمی دمتعددو معنا گانو په ترڅ کښی د (قضاشدن - قضا گشتن) دوه ترکیبونه د (قضا رفتن) په معناقید شوی دی چه په پښتو کښی د (قضاشدن) ترجمه عیناً هماغه (قضاوشوه) ده چه مونږ پرې بحث کوو.

۲ - مرحوم فرید وجدی پخپل دائرة المعارف کښې د (غزا) د کلمی دنورو معنا گانو په ترڅ کښی (اراده) هم راوړی ده چه له (قضا) سره یوه ده او دا خبره هم تریوحده پوری زمونږ بحث مرتبط کولی شی او هم پخپله رحمان بابا دیوعارف په حیث وقضاته ډېر معتقدو، او پخپلو اشعارو کښی ئی ډېرزیات دقضا او قدر په باب کښی څه ویلی دی او په هغه ئې استناد کړی دی چه که ټول مثالونه ئی د دیوان نه نقل کړو خبره اوږدیږی تردی ځایه پوری دښاغلی معروف خپل نظریات وو چه داریانا مجلی د ۱۳۳۳ کال له (۱۳۹) گڼی نه ترجمه شوه او په پای کښی ئی په دی باره کښی دلوستونکو نظریات

---

(۱) بایدملتفت اوسوچه څومره چه (ق) په (غ) اوړی هغومره بلکه ترهغه زیات په پښتو کښی (ق) په (ك) هم بدلیږی. (معروف)

غوښتی وو او دا یو ښتنه ئې هم کړی وه چه دغه اصطلاح د پښتو نور و شاعرانو په دیوانونو کښې هم را غلی ده او که نه ؟ او نن هم دا اصطلاح په پښتنو کښې مروجه او مستعمله ده او که نه ؟ .

په دی لړ کښې ما خپله فارسی مقاله ولیکله او وړاندې می کړه چه د آریانا په (۱٤۱) گڼه کښې نشر شوه او س ئی پښتو ترجمه د کابل مجلی گرانو لوستو نکو ته وړاندې کیږی: څز نگه چه په هغه وخت کښې نور چا په دې موضوع کښې څه نه دی ویلی که او س ئی کابل مجلی ته ولیږی بده به نه وی .

**زما نظریه :** زما په عقیده د رحمان بابا په کلام کښې د (غزا وشوه) اصطلاح عینا پخپله مشهوره او مصطلح معنا استعمال شوی ده ، او دعام استعمال او دعوامو له خولې نه په لږ لفظی تغییر سره چه دا تغیر شاعر ته منسوب ولی شو ، منتقل شوی ده ، ددې اجمال تفصیل لاندی عرض کیږی :

پښتون قوم عموما شجاعت ته اهمیت ورکوی او په «توره» او «توره کول» ئی تعبیر وی .

دمهمو کارونو ترسره کول دیوسړی ذاتی شجاعت ته منسوبیږی او په نتیجه کښې ئی ستاینه داسی کیږی مثلا: «زلمیه ! توره دې وکړه !» او که دذمه واری او داوطلبی سره هم څوک په کوم کار کښې بیرته پاته شی نو دانکاری استفهام په جمله او د تحقیر په لهجه داسی مخاطب کیږی: «توره دې وکړه ؟؟ »

دارنگ اصطلاحات دیخوا نه تراوسه پوری په پښتو کښې شته . د پښتنو اعتقاد د اسلام دابتدا نه تراوسه پوری اسلامی مقرراتو نه ډیر تینگ دی او هغه د خپلو ملی لوړو اخلاقو او عاداتو (پښتنولی) یو خدائی تائید گڼی ، نو د «توره» او «توره کول» نه په «غزا» او «غزا کول» سره تعبیر یو ښکاره حقیقت دی ځکه چه «توره کول» د پښتنولی مهم عنصر او نخښه ده او «غزا کول» د اسلامی دیانت د خپرولو مهمه وسیله گڼل شوی ده نو ځکه تر اسلام وروسته د پښتنو ملی سجیه «توره کول» مذهبی رنگ نیولی دی او «غزا کول» تری جوړ شوی دی چه د اسلام او پښتنو تاریخ ئی روښان مثالو نه ثبت کړی دی .

نو ځکه (غزا د دین له دښمن سره جګړه) له «توره» او «توره کول» سره نژدی ارتباط پیدا کړی دی او په محاوره کښې د غزا کلمه د توری د کلمی غوندی د شجاعت په مصطلحه معنا استعمال لاندی راغلی ده . لکه چه او س هم په کندهار کښې د اجمله «نر شوی غزا دې وکړه» د خبری جملی په صورت د تحسین او آفرین د پاره او د انکاری استفهام په لهجه

دتحقیر دپاره مروجه ده، همدارنگه داجملی: «پزی دی دغازی نه ده» یعنی «قواره دې دغازی نه ده» او «ستر گې دې دغازی نه دی» او «غزادې وکړه غزا؟» په کندهار کښی دتحقیر دپاره مروجی دی، او د «غزادې وکړه؟» جمله دمحکوم او آزاد پښتونستان او دافغانستان دسرحداتو په ټولو اقوامو کښی دانکاری استفهام په لهجه او د مخاطب دتحقیر او دهغه دکارو دبی اهمیته ښودلو دپاره فعلاهم مروجه او مستعمله ده چه دهغه استعمال دیو یا څو تنو شاعرانو په کلام کښی په لږ تغیر سره عادی خبره ده، او همدارنگه دنورو شعراؤ په کلام کښی دهغه استعمال څه مانع نه لری.

او رحمان بابا هغسی شاعر دی چه دعوامو په ژبه ئی عام فهمه شعرونه لیکلی دی او حتی الامکان ئی ددی مطلب تعقیب کړی دی چه دهغه په اثر ئی اشعار و عام مقبولیت موندلی دی دا چه دعوامو په ژبه «غزا دې وکړه» مستعمله ده او رحمان بابا «غزا وشوه» استعمال کړی ده هم ښکاره دلیل لری. ځکه چه دا دراړه جملې انکاری استفهام او دموضوع دبی اهمیته ښودلو دپاره راځی او رحمان بابا دخپلو ادبیانه اخلاقو او شاعرانه خاص طرز له امله دا نه دی غوښتی چه دتحقیر جمله پخپل شدت پاته شی نو ځکه کیدی شی چه د «غزادې وکړه» معلوم فعل ئی د «غزا وشوه» په مجهول فعل اړولې وی چه دفاعل ښکاره کولو ته هم ضرورت پاته نه شی او دغه وضع دعوامو تر لهجی نرمه او درحمان بابا له معتدل کلام سره مناسبه ده، ددغه تحقیق له مخه دې ته ضرورت نه پاته کیږی چه «غزا وشوه» د «قضا وشوه» اوښتی شکل وبولو ځکه چه (۱) (ق) اکثراً په پښتو ژبه کښی په (غ) نه اوړې بلکه په مفعنو کلماتو او په ډیرو محدودو ځایونو کښی دا کار کیږی بلکه (ق) ډیر ځله په (ك) اوړی، د (قضا) د کلمی پرځای تر اوسه پوری دپښتنو له عوامو او خواصو نه «غزا» نه ده اوریدل شوی بلکه امکان لری چه که عوام پدی کلمه ژبه وخوځوی نو (ق) به په (ك) واړوی او (کزا) به ووایی لکه څرنگه چه (قاضی) ته ډیر ځله (کازی) وایی.

۲- دعوامو په ذهن کښی د (غزا) کلمی «ددین له دښمن سره دجگړې په معنا چه د (توره کول) له روحیی او عنعنی سره اشتراك لری ډیر ځای نیولی دی او دغه کلمه پخپله لغوی او اصلاحی معنا په محاوره کښی داخله ده. د (قضا) کلمه دخپل لوړ او علمی مفهوم سره دعوامو په ورځنۍ محاوره کښی داخله نه ده نو دا ضرور نه ده چه دې علمی کلمې ته عوامو تغیر ورکړی وی.

۳- درحمان بابا په کلام کښی سربیره پردې لسو ځایونو چه د (غزا وشوه) اصطلاح پکښی راغلی ده په نورو ځایونو کښی د (قضا، رضا) او دهغه امثال پخپلو اصلی معناؤ او په عربی شکل (رسم خط) راغلی، که رحمان بابا پخله د (قضا) پرځای د (غزا) په استعمال قانع وای نو دا کار به ئی په نورو ځایو کښی هم کړی وای، او بیا هغو کسانو چه

دهغوی دنقل او استنساخ په ذریعه درحمان بابا دیوان مونږته رسید لی دی په هر ځای کښې به ئی د (قضا) پرځای (غزا) لیکلی وای . نو معلومه شوه چه رحمان بابا پخپله یو عالم سړی ؤ او دعربی لغاتو په اهمیت پوهیده نوطبعاً ( دالتباس لهوپری ئی په هر ځای کښې (قضا) (قضا) او (غزا) ئی (غزا) لیکلی ده : لکه چه وا ئی :

چه پخوا ترقضا خپله رضا غواړی
بی هوده په لوتوولی آسمان ولی ؟

اوس نوراځو دی خبرې ته چه پرته درحمان بابا او علیخان ختک له اشعارو نه د(غزا- وشوه) اصطلاح دپښتو نورو شاعرانو په اشعارو کښې هم راغلی ده که نه ؟ داسی ګومان کوم چه د خوشحال خان په اشعارو کښې به دا اصطلاح راغلی وی خوادمرحوم عبدالعظیم رانیزی سواتی (۱۱۶۷ – ۱۲۰۳ ه ) دیوان مې چه و کوت هلته پنځه ځایه دا اصطلاح راغلی ده چه د(دیوان عظیم) دلاهورچاپ نه ئی رانقلوو :

۱ـ دحضرت رسول اکرم (ص) په شان کښې وا ئی :

په کور دخدیجی کښې چه یو نورو ځلیدو  په وا ړو کافرانو دغم چور ولګیدو
کویان شو کل ملك ددوی په منقبت  نوبت درسالت ئی په معمور وغږ بدو
عمر چه منور شو پری سرور شو معتبر  جاهل په زړه کاهل لکه رنځورو کریدو
دپیرو له دهشته په چشمانو باندی دوندشو  هریو په ځانه ځان لکه مفرور تپریدو

ددی شعر په یوبیت کښې ئی داسی ویلی دی :

په زړه کښې معتقدؤ د حضرت رسالت
غزا شوه که ئی زبان په دې مذکور نه چلیدو (۳۰مخ)

۲ـ مسمی چه می له اسمه سمه نه شوه
غزا و شـوه چـه عظیم زما نامـه ده (۳۲مخ)

۳ـ کوریه کور سره غزا شوه د نیتو نو
خپل نایك شو همسایه نه بد اختیار (۳۶مخ)

(په دی بیت کښې (غزا) محض دجنګ ، جګړی او نښتلو په معناده نو ځـکه ددې استدلال چه (غزا) د (توره کول) په معنامستعمله ده تائید کوی ) .

۴ـ غزا وشوه که حمرت یکښې موجودشو
مساوی لباسی ګل له ګلاب مه شه (۵۰مخ)

۵ـ زړه می ژاړی اندرون داعشق له درده
ـ غزا وشوه که می وچ دستر ګو نم دی (۹۰مخ)

داؤ زما معلومات او نظریات ، بنائی چه دنورو فضلاء و د څیړنو په رڼا کښې حقیقت ښکاره شی .

دپسرلی دراتګ په مناسب:

ښاغلی څرګند «ننګلامی»

# نوی موسم او نوی هیلی

دنوی موسم څخه زما مراد
پسرلی دی، او دنووهیلو نه مې
غرض هغه انفرادی او اجتماعی
آرزوګانې دی کوم چه دولس
په مغزو کښی دیوې ابدی په
حیث ځای لری.

هو! دلته شاید ځینی ملګری
ووائی چه دپسرلی تعریف ښائې
چه درنګ او خوند له مخی یا په
بل عبارت د ښکلا او ښائیست
له مخې شوی وای خو دلته
مونږ یواځې د کیفیت او کیف
نه علاوه دماهیت او معنی په برخې
زوراچولی دی او جمالیاتی
برخه موهوغو ګرانو لیکوالو ته
پریښود له کوم چه د خیالی
معشوقو دخط و خال په پوره
ترسیمولو کښی لوی لاس لری
یا په بل عبارت دوی کولی شی
چه د پسرلی رنګ و شرنګ
دبلبلو اهنګ داسې مجسم کاندی
ته به وائې چه دبورا سره ئې راز
او بلبلانو سره ئې پرواز کړی دی
دپسرلی شنه شنېلی دد وی
په لیکنو شنه اوزرغون وی او
خیال ته لکه دتوتکی غوندې
پروازور کوی رشتیا داده چه
ښکلا او ښایست دهرچا ښه ایسی
دتریلی ځلندې او به او د هیلو
غوټی دهرچا هیلی راکوچوی
دسیندونو بهاندې او به او ډځرو بی
لالهانده زغ د سړی خیالونه
لاهو کوی. پهر صورت باور لرم
چه تراوسه کوم شی چه ماغوښت
وئې لیکم بو څه تری لیری و تم
خو سره له دې وخت ماته فرصت
راکوی چه خپله موضوع دسره
ونیسم او هیلی دفردی او جتماعی
لرنه وګورم داهم په خیال
ساتیء که زما قلمی استعداد
ونکړای شو چه معنون له عنوانه
سره سم افاده کړم نو په هغه
صورت کښی به البته
بخښنه کوی.

## دفرد آرزوګانې (دهرچا)

دنوبهار دوږمو دلګېدو سره
سم دهرچا په فکر کښې راز راز
مفکورې چکروهی منتها په لږ توپیر
(دخلکو دسویی او شغل) په
اساس که دلته مونږ دمنورینو
اوغیر منورینو خلکو آرزو-
ګانې او دآرزوګانو طرز
سره بېلول ونه غواړو نوویلای
شو چه په عمومی ډول دخلکو
ارزوګانې به داوی:

په نوی کال کښی به بډای شم
که یه؟ په نوی کال کښې
به د ښه شهرت خاوند شم
که څنګه؟

په نوی موسم کښې به ښې
درجې ته ورسېږم که نه؟
ښه صحت به مې نصیب شی او که
نه؟ ښه ښه چانسونه به وګورم
که یه؟ موفقیت به لاس ته
راوستلای شم؟ واده به وکړم؟
خدای (ج) به په نوی
کال کښی زوی راکړی که نه؟
په ولس کښې به محبوبیت
وګټم؟ دکورنۍ محبوبیت
او بیا په تېره مېرمنی ته مې ګران
یم که؟؟؟ په همدی ډول په
زرګونو نورې هیلې او ارزوګانې
دهرچا په دماغ کښې
چلند کوی.

## اجتماعی ملی او بین المللی:

څرنګه چه فرد دا جتماع
غړی دی او یا دا چه اجتماع
دافرادو دیوون نه جوړه شوې ده

په دی اساس دفرد سعادت او
بدبختی په تولنې او د تولنې سعادت
او بد بختی په فرد باندې بې
اغیزې نه شی پاتې کیدلای
لدغه کبله افراد خپله بقا
او نیکمرغی د تولنې په سعادت
کښې لټوی همدا سبب دی چه
مونږ او تاسو پرته د کورنی او
فردی مصرو فیتونو اجتماعی
تکلیف ته هم ملتفت یو او روزمره
د نړی حوادث په ډېر ځیر
تعقیبوو او داو ضاعو مراقب
یو، چه په نتیجه کښې د لذت
یا تالم احساس کو و نو ځکه
زه ادعا کولای شم چه دغه
لاندینی خیالونه، ارزوگانې
به لږ او ډېر دهرچا سره وی:
په نوی کال کښې به زمونږ
تولنه څرنګه تولنه شی؟ یووالی
به مو بشپړ شی؟ په علمی او عرفانی
ساحو کښې به وطن پرمخ لاړ شی؟
د مملکت تولید په وسائل
او وسائط به ډېر شی؟ دخارج
نه به ارتیاوی خلاصی نه شی؟
صنعت او زراعت به په مترقی
شکل وانه وړی؟ صادرات
به مو پروارداتو ډېر نشی؟ دخلکو
هوسائی او رفاه به حاصله نشی؟
ایا هیواد به دهوائی او مځکنی

منظمو لیارو خاوندشی؟
دهیواد دوکروشمېر به زیات
شی که یه؟ دعصری ښار و نو
خاوندان به شو که نه؟ مربیون
به وطن ته لیږدان وروزی که نه؟
په عمومی ډول به زمونږ
وطن په زړه پورې تحول
وکاندې که نه؟ زمونږ هیواد
به په بین الاقوامی مسائلو کښې
ښه رول ولوبوی کوم چه
دافغان په ګټه تمام شی که نه؟
زمونږ فطری اوملی ارزوگانې
او غوښتنې به لاس ته راشی
که څنګه؟ دګاونډیانو سره
به زمونږ دهیواد مناسبات
دیخوا به شان وی که نوی نوی
انکشافات او تحولات به یکښې
راشی؟ که څه هم دجنګ هیله
هیڅوك نه لری او دنړی ګرد
او سیدونکی واقعی امن
او سوله غواړی هغه سوله چه
پر پوره عدالت او مساوات
بنساوی او دنړی د هرګوښې
خلك جنګ ترټی او دنفرت په
ستر که ورته ګوری خو پدې هم
باید اعتراف وشی چه د خیال
په ډول دجنګ عبوسه څېره
دهرچا په تصور کښې راځی

نو ځکه آیا چه که خدای (ج)
دې نکړی په نوی کال کښې
به ددریمی خونړی جګړی
اوربل شی؟ او که دجنګ اور
بلیدونکی وی نو لمړی به په
کومی نقطه د جهان کښې
بل شی؟ زمونږ دهیواد سیاسی
او نظامی اوضاع به په هغه
وخت کښې څنګه وی؟ ترخونړی
او جهان شمولې جګړی وروسته
به د نړی څه حال وی؟؟؟
لنډه ئې داچه دسری په مغزو
کښې ډول ډول او راز راز
افکار او خیالات به چلند کښې وی
چه کله نا کله ئې بیا د ځینو
هیلې ګاوه شی او دځینو څخه
بیزاری غوښتل غایه وی.
نو هر کله چه سړی د دغو
خیالاتو او افکارو د مناقشی او
محاکمی څخه عاجز پاته شی،
نوغواړی چه دخپلو همنوعانو
له خوا مرسته ورسره وشی نو ما
هم پدغه اساس خپل خیالات
او ارزوگانی پدې توګه تقدیم
کړی چه د بوې مطلوبی نتیجی
په لاس ته راوستلو باندی بریالی شم
والسلام.

# ملا محمد صدیق

ملا محمد صدیق آخندزاده پهختیه کاکړو، د قندهار د زاړه ماشور په کلی کښی (چه له احمدشاهی قندهاره څخه تقریباً ۷–۸ میله جنوب غربی پلو ته پروت دی) او سید، په نفاسیرو، احادیثواو فقه کښی یی ښه معلومات لرل، په سلوك او طریقت کښی یی د مشهور ملا علم آخند «رح» د زوی احمدجان صاحبزاده (چه په ۱۳۱۱ هـ قمری کال مړ دی) لاس نیوی کړی او د ارشاد اذن یی لحینی اخستی و.

وایی ملا محمد صدیق د ځلمیتوب په سر کښی کلك ریاضت کاله، د پری خواری یی کښلې پای ته داسی د سکر واستغراق حال ورپیښ شو، چه خوب یی له ستر ګو والوت په میاشتو میاشتو یی ناڼو پرباڼونه اینبو د، له خلقو یی آشنایی او تعلقات هسی پرې کړل چه غرونه یی مخ ونیو او هلته یی څلور کاله دوښو په خوړو تیر کړل، کله چه احمدجان صاحبزاده ته راو ستل شو بیرته د صحوی حال ته راواوښت او په لږ وخت کښې یی د سلوك ډېر مزلونه طی کړل.

ملا صاحب د خپل وخت منلی ستانه و، و پښتلی زړه یی درلود او له سوزه ډك اشعار یی ویل، دده د دیوان له ۷۹۱ څخه تر ۲۹۶ مخه پوری زما سره شته. وفات یی د ۱۳٤۷ هـ قمری کال په شاو خوا کښی تقریباً د اتیا کالو په عمر پیښ شوی او پخپل ټانوبی (زاړه ماشور) کښی ښخ دی.

**د کلام نمونه:**

د سپها رنسیمه! وخو ځه له ځایه — د لبر پر لوری ځه سلام پر وایه
ترسلام مود عا پس د اورته عرض کړه — هغه ناو پښتلی پر وت بې د ستو پایه
د جفانه په اوردی سوی به نارودی — بو وار ته دوفا مخ و ر له و نمایه
لا به کله د دیدن زیری پرو کړې — د هجران لمبو دی وسو سر تر پایه
د هجران پر توده مځکه باندی پروت دی — لا به کله باندپسیوری کړې همایه
اسرهت د سلطنت دی مبارك وه — شاه له بو یه چه حال نیسی له گدایه

کله کله د «صدیق» پر لور گذر کړه
خو د را بی همیشه مه کوه خودرایه!

شفقت درب پر پا رو کړه نا خدایه !

برابر می د مقصود پر لوری بیایه

که می وبا سې د غم له تلاطمه

زه «صدیق» وسیله نه لرم بې خدایه

* * *

څه سیلیه د خزان شوې حواله  د بهار گلونې وج کړه پر تاله

واك می خپل نه دی چه غم کړم د زړه لری  ما د واك و یارور کړې قباله

د خوښۍ تخم به کله پرې زرغون شی  هغه ملك د زړه چه غم نه کی ماله

دستگیری می و کړې ربه ستا په فضل

په نا پایه رود می و شلېده جاله

د درباري مېرڅيو له فجايعو څخه :

ادبي او تاريخي تتبع

ښاغلي وا سعي

## ادب په تناره کښې

عبدالله ابن المقفع به د عربي ادب په مطالعينو کښې هرڅوك تر يوې اندازې پېژني چه د هجرت د دوهم قرن لمړي ليکونکي او د عربي قلم او انشاء منلي نابغه او عبقري دي، دي د عباسي حکومت په ابتداء يعني د ابوجعفر منصور په خلافت کښې د کتابت او انشاء په اعجاز مشهور او د هغه خليفه له خوا د «اکتب الخلق» خطاب ورته شوي و، او س به زمونږ محترم لوستونکي و گوري چه د ادعربي قلم او انشاء معجزه او د فضيلت او ادب د ناز او افتخار رونړ ستوري څنګه د ادب له آسمانه څخه رالويږي، او د دربارونو، د شخصي اغراضو او وحشت آميزه استبداد په قرباني کښې د سره تناره په اورمکوټ او يه موټ توري ايرې ځني جوړيږي!!!

« ليکوني »

## ستا په خيال چه ماته د ((اکتب الخلق)) موقع چه ابن المقفع دي نده معلومه؟

«دا د ابوجعفر منصور وينا ده چه خپل وزير او سر منشي (ابوايوب سليمان بن ابي سليمان) ته ئې په هغه موقع کښې وکړه چه وزير خليفه ته د هغې د سيسي قصه کوله چه د ابن المقفع او خالد بن برمك له خوا خليفه ته جوړه شوې وه او ابن المقفع ئې ورته غا نده او دي ئې ورته پرساوه، مگر خليفه ته د ابن المقفع سپېڅلتيا او بې گناهي ور معلومه شوې وه.

### وزير ورته وويل :

د سر امان مي دي وي امير المؤمنينه ! ماته دا معلومه ده خودي مي ستا تر اکا عيسى بن علي پر تا پېر زو دي.

### نو خليفه ورته وويل :

ښه نو خالد بن برمك بد پر څه راته وائي او ولي ئې راته غندې؟ خود وزارت څخه مي موقوف کړ، ځاي مې تا ته در کړ او ايران ته مي پسي وغور ځاوه چه زړه دي پر پښتۍ وي. تا چه هر څه ښېگڼي زما سره کړېدي د ټولو عوض مي پوره در کړېدي ځان ته مي رانزدې کړي، سرمنشي مي کړي نور ټول منشيان مي ستا تر لاس لاندي کړه، تر «اکتب الخلق» تېر شوم صرف نظر مي ځني وکړ، خپلو اکا گانو ته مي ور پرې ښوو، د ادب او قلم څخه ئې مرسته هغو ته ورر سيږي او په فضيلت ئې هغه وياړي، په شهرت او نامه ئې چه په خلقو کښې ئې لري دوي نازيږي «ابوايوب د مروان بن محمد په عصر کښې د «اهواز» دوالي سليمان بن حبيب کاتب ؤ او سليمان د اصفهان دوالي (عبدالله بن معاويه طالبي) پر هر يوه عامل او مأمور باندې چه د ده د دارالحکومگۍ «اهواز» په منطقه کښې به تېر يده محصول وضع کړي و، ابو جعفر منصور پدغه وقت کښې عبدالله بن معاويه ته راغلي و، او هغه د «ايزگ» په حکومت مقرر کړ ده د هغه ځاي ماليه ټوله کړې او بصري ته ئې بار کړې وه

او ابن معاویه ته ئې هم هېڅ ځنی
وروانه ستول، چه پرلار «اهواز»
ته راور سېده د سلیمان سړو
ونیو او سلیمان ته ئې ورؤست
پدغه وقت ابو ایوب هلته حاضر ؤ
نو سلیمان بن حبیب ورته وویل:
ما لیه چه دی ټوله کړېده
رائی کړه.

ابوجعفر ورته وویل:
زما څخه څه نشته!

سلیمان متروکی ورله را
وغوښتې، نو ابوایوب ورته وویل:
نائب الحکومه! د دې سړی
له وهلو څخه لاس واخله، که
خلافت په بنی امیه ؤ کښی پاته
وی ته د بنی عبدمناف یو سړی نشې
وهلای او نه دا در ته مناسبه ده
او که پادشاهی بنی هاشمو ته په
لاس ورشی د اسلام په مځکه کښی
به ته ټاټوبی نلری او نه به
دا مځکه ستا وطن وی، سلیمان
دده پر خبره غوږ و نه نیو او
ابوجعفر ئی ۴۲ متروکی وواهه
څو نزدې ؤ چه بې هوښه شی،
نو ابوایوب ورولاړ شو او ځان ئی
پری ور واچاوه، او د سلیمان څخه
ئی پرله پسې خواهش کاوه چه
بس ده، زاری ئې ورته کولې چه
پرې ئې زدی څو ئې پرې ښو و،
او بندی ئی کړ، څو د مضری قبیله
دابی جعفر پروهلو او بند پورته
شوه او سره ټول شوه، بند یخانی
ته ورغله او هغه ئی ماته کړه او
ابو جعفر ئې ور نه راوایست،
نو بصری ته روان شو.

ابو جعفر چه خلیفه شو، د
ابوایوب دا ښه ئی ورادا کړه، په
وزارت ئی مقرر او د خلافت ټولی
اداري ئی دده ترلاس لاندی کړی
ځان ته ئی را نزدې، او پخپل
مخصوص اعزاز ئی سرلوړی او
ونمانځه، خالد بن برمك پخوانی
وزیر ئی دده دپاره معزول او
د فارس «وایسرا» ئی مقرر کړ
دابوایوب کار، وار په وار پسی
غټېده او لوړېده. د اعتبار
ستورې ئی روښانېده څو په آخر
کښی وزارت ته ورسېد، او ټول
دولتی او رسمی اداری دده
ترلاس لاندی راغلی، او دابو جعفر
زړه ته دومره ور نزدې او دومره
ورسره معتبر شو چه هیچا
برابری او سیالی نشو ای
ورسره کولای، تر دې اندازې
چه په خلقو کښی مشهوره شوه چه
په خلیفه کوډی او سحر کوی
هر وقت چه خلیفه ته ورځی په
یو قسم غوړیو مخ غوړه وی چه
هغه دا بو ایوب په غوړیو
مشهور دی.

دابوایوب اعتبار دې اندازې
ته ورسېد چه د ننه په شاهی
سرای کښی به ئی بېله ده تو خته
او طاقت نه کېده، یوه ورځ د
ابوجعفر منصور ښځی ام سلیمان
په دوبی کښی یو مجلس ورته
جوړ کړ، گلان او عطرونه
او نوری قسم قسم خوشبوئی گانې
او واوره ئی تهیه کړې وه، دی
چه دی مجلس ته ورغی خورائی
خوښ شو او خوشبوئی گانو
او پخوالی ئی خورا خوند
ور کړ څو ئی دې ته وویل:
د دې مجلس څخه هیڅ خوند
نشم اخیستلای .....

ام سلیمان ورته وویل:
ولی امیر المومنینه؟

ده ورته وویل: ځکه چه
ابی ایوب نشته چه خبری راسره
وکړی او ساعت می ورسره تېر شی
دی ورته وویل: «ماخودا
مجلس ستا دپاره جوړ کړی دی
چه ته پرې خوشحاله شی، سړی
ورولیږه راوې غواړه»

ابو جعفر ابوایوب را وغوښت
چه راغی نوده ورته وویل :
ابو ایوبه ! د دی خوشبو ئی
خوند خوته وینې، مګرماته ئی
بې تا خوندنه را کاوه .

* * *

داو، دابو ایوب سلیمان قدر
او منزلت او اعتبار چه منصور
ته ئی درلود ځکه ئی نو دهغه
د ساتنی دپاره ډیر کوښښ کاوه
اوخورا پرې حریص و، او ډیر پرې
ډاریده . ده ته داور معلومه وه
چه خالد بن برمك پرده څومره
قدر او اعتبار لری، او په څه
اندازه ئی معتمد دی ، او د
ابن المقفع دادب او دهغه ددرأیی
او د فکر په څه اندازه تقدیر
کوی . نو ئی د خالد په مقابل
کښی مخالفت شروع کړ څو چه
هغه ئی دوزارت څخه پرې ویوست
او د ابن المقفع پر ضد ئی
کوښښ و کړ څو ئی هغه ورته
جوړ کړه چه ورته جوړه ئې
کړه .
دی لدې څخه تل په بیره کښی و،
چه منصور به خالد بن برمك
بېرته وزارت ته راولی ، نو ئی
د خالد بن برمك غند ته خپله
وظیفه و بلله، څو ئې هغه چه په
فارس کښی ؤ درې لکه روپۍ
پری جرم کړ او هغه فقط یو لك
روپۍ درلودې ، څو ور وسته
د هغه برائت او دده درواغ
ښکاره شوه نو خلیفه و باخښه
او ابو ایوب ئی دوزارته څخه په
معزولۍ تهدید او ورته
وې ویل :
ستا په خیال لکه ماته چه د
( اکتب الخلق ) موقع چه
ابن المقفع دی نه ده معلومه!....
دابو ایوب بده راغله چه
دابن المقفع تقدیر دی اندازې ته
ورسیږی ، نو دده په باب کښی
ئې هم هغسی د سیسی ته لاس
ورته کړ لکه خالد بن برمك
ته چه ئې ورته کړی و ،
ابن المقفع پدغه وقت کښی
دمنصور دا کا عیسی بن علی د کرمان
دوالی کاتب ؤ او یوه روځ
ورته راغی او ورته وئې ویل:
زما په زړه اسلام راننوتلې دی
زه غواړم چه ستا په لاس
مسلمان شم .
عیسی ورته وویل :
دا باید دعسکری قائدانو
او د نورو مشرانو او مخورو
کسانو له مخه وی.

بیانو ددغی شپی دما ښام
ډوډۍ راغله، ابن المقفع ډوډۍ
ته کښېنوست او دځان سره ئی
دمجوسو پرعادت زمزمه او
زګېر وی درلود، عیسی
ورته وویل:
ته خو زمزمې کوی او ته
وائې چه د اسلام عزم دی
کړیدی؟
ابن المقفع وویل:
زما زړه نه غواړی چه یوه
شپه پر ما تېره شی او په هیڅ
دین نه یم،
ابن المقفع مسلمان شو او
پرځان ئې عبدالله نوم کښېښود
چه عیسی بن علی معزول شو، نو
دده سره بصرې ته راغی، پدغه
وقت کښی دبصرې والی دعیسی
بن علی ور ور موسی بن علی ؤ
ابن المقفع ددوی د کتابت
کار کاوه او ددوی د ورور
اسماعیل بن علی د زامنو
تأدیب ئې کاوه او ددوی
مکتوبونه به ئې ددوی بل
ور ور عبدالله بن علی ته چه
هغه په جزیرة العرب او شام
کښی دځان دپاره
دخلافت دعوه کړی وه

او ابو جعفر ته پورته شوی ؤ
ورلېږل، هغه یو وقت ابن المقفع
ته مکتوب لیکلی او مشوره ئې
ځنی غوښتی وه، ابن المقفع
پجواب کښی ورته ولیکل:
زه د کوم عسکر قائد نه یم،
او نه د کوم محاز قیادت کوم
او نه دو ینو د تویلو مشوره
در کوم، او د جګړی
بار داخیستلو قابل ندی.
دا مشوره دبل چا سره وکړه.
ابو جعفر د خپل ورور
ابو العباس د مرګ په وقت کښی
په مکه کښی و، دده د پاره
د عراق د خلقو څخه بیعت د کوفی
والی عیسی بن موسی واخیست
ده د مملکت ټولو حاکمانو ته
ولیکل چه د خلقو څخه د ده
د پاره بیعت واخلی په حاکمانو
کښی یو عبدالله بن علی و، هغه ته
چه دا امر ورو رسېده عمل ئی
پرې ونه کړ او د ځان د پاره ئی
د خلافت بیعت واخیست او تر
جزیرة العرب او شام ئی لاس یو ؤړ
ابو جعفر و بېر ېده او خورا
کورنځی ئی ووهلې؛ نو ابو مسلم
خراسانی (افغانستانې) ورته
وویل:

دا کورنځی د څه د پاره
دی خو خلافت په لاس درغلې دی؟
ابو جعفر ورته وویل:
زه د عبدالله بن علی د شره
څخه او د علی بن ابیطالب د ډلی
څخه بېرېږم.
ابو مسلم ورته وویل:
مه ځنی بېرېږه، زه به انشاءالله
د ده کار درو کړم، د ده عسکر
او نور هر څوک چه ورسره دی ټول
د خراسان دی او زما د خولی څخه
نه اوړی ... نو ابو مسلم د عبدالله
بن علی جګړی ته د یوه لښکره
سره ورووت عبدالله چه د عباسی
دولت داتل په وروتلو خبر شو،
هر څه د خراسان خلق چه ورسره
وه ټول ئې ونیول او د مرګ
حکم ئې پرې وکړ، نو ئی د دې د پاره
چه ابو مسلم ته ورو انوړی ټول ئی
حلال کړه، وروسته ئی لښکر
« نصیبین » ته راویوست او
خندق ئې پر راوګرزاوه، ابو مسلم
مخه پرې راوکړه او دواړه لښکری
سره مخامخ شوې، د عبدالله لښکر
ډېرو، نو جګړی څو میاشتی دوام
وکړ څو ابو مسلم برې و موند
او عبدالله خپلو ورونو ته بصرې ته
وتښتېده.

منصور د عبدالله په تېښته
بصرې ته اوپدې چه د خپلو ورونو
په لمن کښی ئې ځان ورواچاوه
خبر شو، سلیمان بن علی ته ئې
خبر ورواستاوه چه خپل ورور
ده ته ورولیږی، ده خپل ورور
ورونه لېږه او خط ئی ورولېږه
چه د ده ورور ته دې امان
ورکړی، هغه امان ورکړ مګر
پدې شرط چه ده ته به ورځی
او ورته در یږی به، سلیمان
بن علی او ورونو ئی دا قبوله نکړه
ابو جعفر د ده د موقوفی فرمان
صادر کړ او د ده پر ځای ئې
سفیان بن معاویه مهلبی چه د سلیمان
بن ابی سلیمان د سړو څخه ؤ د بصری
والی مقرر کړ او د عبدالله بن علی
دورلېږلو په باب کښی ئې خورا
ډېر ورته وویل: ده ئی د ورونو
سره خبری وکړی مګر هغو
انکار وکړ او ورته وې ویل
پدې شرط مونږ خپل ورور
ورلېږلای شو چه خلیفه پر دې
موافقه وکړی چه دامان خط
به مونږ لیکو او هر ډول امان
چه مونږ ولیکه هغه به خلیفه
امضاء کوی منصور دا شرط ومانه
عیسی بن علی خپل منشی

عبدالله ابن المقفع ته امرو کړ
چه یو داسی امان ولیکی چه
هیڅ تأویل نه یکښی
جوړیږی او د هیڅ خواڅخه لار
نه ورته کیږی او احاطه ئی ډیره
شدیده وی، نو ده هغسی یو لیک ولیکه
او یکښی ویلی ئی وه چه:
«که ما عبدالله بن علی یا یوه
ته دهغو کسانو چه زه ئی غواړم
دده سره راشی کوچنی یا لوی
ضرر په ښکاره یا په پټه په یوه
سبب داسبابو یا په یوه صورت
دصورتو او په یوه طریقه دطریقو
صراحتاً یا کنایتاً یا په یوه
حیله دحیلو او په یوه چم دچمو نو
ورور سا وه زه به دمحمد علی
بن عبدالله زوی نه یم، بلکه
هر مونی به یم، او دمحمد (ص) ټول
امت ته زما خلع او زما سره
جګړه او زما څخه ابراء او تبراء
حلال له او روا ده، زما بیعت
به دمسلمانانو په غاړه کښی
نه وی او نه به زه لدوی سره
څه عهد او معاهده لرم، یر دوی
واجبه ده چه زما د اطاعت
څخه ووزی او راته یو ر ته شی
او څوك چه زما په مقابل کښی
ولاړ وی د هغه ملاو تړی
او مرسته ئی وکړی او زما
او دمسلمانانو څخه د
هیڅ یوه مسلمان ترمیانځ دوستی
نشته، او دی دهیڅ قسم مرستی
او معاونت حق پرې نلری، او دې
اقرار کوی چه که ددغه لیکل شوی
مضمون څخه مخالفت وکړی
دی به په تولو دیانو کافر وی»
ابوجعفر چه داولوست وی ویل:
- هر وقت چه زما ستر ګی
پر علی بن عبدالله بن علی ولګیدلې
نو دا امان دده په باب کښې صحیح
او داعتبار وړ دی، ځکه چه زه
دمخه دده تر لیدلو پرده اطمینان
نلرم ځکه زه به دا امان ور کړم
او دی به بیا ولاړ شی فتنه او فساد
به راته جوړ کړی.
نو ئی دقهر او غضبه په ډکو
ستر ګو وکتل او وې ویل:
- دا چا ور لیکلی دی؟
ابوایوب پجواب کښی ورته
وویل:
- باداره «اکتب الخلق»
ورلیکلی دی.
منصور سر وخوځاوه، او خورا
قهرور غلی و، وی ویل:
- کوم یو به د ده چاره
ونه کړی؟
د ابو ایوب د اعادت ؤ چه
ابن المقفع به ئی دمنصور په حضور
په دی متهم ښووه چه د عبدالله
بن علی سره په رأیه او دفکر او
نظر بی په ور کولو کښی مرسته او
پخپل لیك او قلم معاونت کوی
دده مخالفت او جګړې ته ئی
نشویق کوی، تحریکات ټول
دده له خوا ور کول کیږی، نو چه
دمنصور له خولی څخه ئی هغه
خبره واورېده فرصت ئی وموند
او پخپله اراده ئی دبصری والی
سفیان بن معاویه خبر کړ، هغه
پخپله هم د ابن المقفع سره د
بنی امیه ؤ ددورې له وقته دښمنی
درلوده او ورسره پرته ئی وه.
نو چه د ابو جعفر خبره
ورورسیده او د ابو ایوب اراده هم
ورمعلومه وه چه د ابن المقفع سره
عداوت لری او ځنی بیریږی
دده په تعقیب ئی شروع وکړه
او پلمی ئی ورته لټولې، درواغ ئی
پرویل څو ابن المقفع ځنې په
عذاب شو، نو ئی سپك مستعملاوه
پر سفیان دادرنه تمامیده نو ئی
په زړه کښی ورته ساتله او وقت ئی
ورته کوت.

عیسی بن علی به ابن المقفع
پخپلو چارو کښی نیابتاً مقرر اوه
او لوی لوی کارونه به ئی ورسپارل
او سفیان بن معاویه ته به ئی دخپلو
چارو دپاره وراستاوه، چه ددوی
بد سره راغله نو ئی پښه ځنی
و نیوله او د عیسی بن علی په
چارو کښی به چه هغه ورلیږه نه
به ورته . یو وقت عیسی بن علی ته
یو ضرورت ورپیښ شو چه باید
ابن المقفع سفیان ته ور شی او
عیسی بن علی ور ته وویل: ده
عذر ورته وکړ، هغه بیا ځنی وغوښته
او ورته وی ویل چه: زما ددغه
مقصد دپاره تر تا بل مناسب څوك
زه نه وینم نو ده ورته وویل :
ابراهیم بن جبله راسره ولیږه
چه زه دسفیان څخه بې غمه نه یم
عیسی ورته وویل :
یه، ورشه او مه بېرېږه؛ چه
ستا قدر او منزلة چه ما ته ئی لری
ده ته ور معلوم وی والله که
غرض درسره وکړی ...
ابن المقفع ورته وویل :
- یه، یه ابراهیم به هرو مرو
راسره ځی دبد سړی دشر څخه
هیڅوك نه خلاصېږی، او که
پخپله ضعیف وی دبل په سبب
ضرر وسوی، او دبدی خاوندان

به حتماً یو له بله څخه ځان سره
ساتی، ابراهیم بن جبله دعبدالله
ابن المقفع سره ولاړ او دواړه
دوالی د اداری په وره کښی
کښینستل او د ابراهیم د اکا
زوی عمر بن جمیل هم راغی او
ددوی سره کښیناست، دوی لا سره
ناست وه چه دسفیان سړی راوؤت
او دوی ته ئې وکتل ژر بېرته
ننووت، او یوه لږ شېبه وروسته
سړی بېرته راغی عمر ته ئی وویل :
- والی وائی دفتر ته ورشه
هلته کښېنه چه غرمه شوه نو بیا
ماووینه . . نو عمر ولاړ او
دفتر ته ور ننووت، او سړی بېرته
ننووت او بیا راغی ابراهیم ته ئی
وویل :
- والی دې بولی ...
ابراهیم بن جبله ولاړ شو
او سفیان ته ور ننووت .... لږ
گړی وروسته هغه سړی راغی
ابن المقفع ته ئی وویل :
- والی وائی دننه راشه ...
ابن المقفع ولاړ شو پدغه
وخت کښی چه دی دننه په دفتر
کښی روان ؤ بل اطاق ته ئی
وگرزاوه چه عتاب محمدی او
شېرویهٔ ملادسیی پکښی وه، دوی

دوو ابن المقفع و نیوه او ځنځران
او زولنی ئی ور واچولې،
ابراهیم بن جبله چه سفیان ته
ور ننووت ور ته وې ویل :
«ابن المقفع ته اجازه ور کړه»
سفیان خپل سړی ته وویل
«راپرې ئې زده!»
دسفیان سړی دتظاهر په ډول ووت،
او ځان ئې داسی ښکاره کړ چه دی
هغه ته ورغی نو راغی، او وی ویل:
ابن المقفع تللی ؤ ...
سفیان ابراهیم ته وویل :
وگوره.... دده پر نفس دا
کله اوارېږی چه تا ته دی
زه اجازه وکړم او دی ناست
وی، زه یقین کوم چه په قهر شوی
دی نو سلیمان ولاړ شو او ابراهیم
ته ئې وویل ته او سه، او هغه اطاق
ته ورغی چه ابن المقفع پکښی
ځنځیر پیچ ؤ، چه ستر گی ئې
پرې ولگېدې نو ئې ورته وویل :
په دام کښېوتې والله !....
ابن المقفع پجواب کښی
ورته وویل :
دخدای روی وگوره ..!
سفیان ورته وویل :
مورته به می بل ور غلی وی -

لکه تاچه:(۱) ویلی وه. که می په داسی مرگ مړ نکړی چه تر تا دمخه بل یو په هغسی مرگ نه وی وژل شوی.

ابن المقفع جواب ورکړ:

ته به ما مړ کړی، نو به زما په مرگ زر کسه مړه کړی او که تاغوندی زر و وژل شی دیوه په سر به نه وی، نوئې وویل:

لکه ما غوندی سړی که کم وقت مړ شی د هغه په مرگ به مړه شی ډېر وگړی ته به مړ شی خو یوازی به ته مړ شی لوی کوچنی به دی خبر نه وی په مړی

سفیان وویل.

والله دزندیقی زوڅو د آخرت تر اور د مخه دې د دنیا په په اورونه سوځم!..

امرئی وکړ چه تنور تود کړیء چه ښه سور شو نوئی امر وکړ چه ښی لاس ئې په اوږه کښی پریکړیء نوئې ځنې پریکړ او په اور کښی ئې واچاوه، نو ابن المقفع وویل:

د دنیا او آخرت واک د څښتن تعالی په لاس دی او دی ئې پالنه کوی او هر راز چه ئې اراده وی هغسی کیږی.

نو سفیان وویل:

چپ زندیقه!....

او د کیڼ لاس دپر ېکولو امرئی وکړ او په اور کښی واچول شو، نو ابن المقفع وویل:

هېڅوک نشته چه د ده قضاء بېرته کړی، او نه د ده حکم څوک ځنډ ولای شی.

نو سفیان وویل:

چپ زندیقه! والله چه په یوه داسی مرگ مړ شی، چه تر هغه به بد مرگ نه وی.

نو ابن المقفع وویل:

خدایتعالی مخلوق پخپل قدرت پیدا کړی، او تر مرگ وروسته ئې ژوند ورله استولی دی.

سفیان وویل:

چپ زندیقه! قسم پخدای چه توته توته به شی او وروسته به ایرې در څخه جوړی شی او باد به ئې یوسی.

سفیان ئې د بدن د اعضاء په یرې کولو امر کاوه او په اور کښی اچول کېده څو ئې وسو او هیڅ هم پاته نه ښوه.

ابن المقفع د دغه جاهل او وحشی تر لاس تېر شو، وروسته نو سفیان ابراهیم بن جبله ته هغه سړی چه د ابن المقفع ملگری ؤ ورغی او یوه گړی ئې خبری ورسره وکړی او ورسره وغږیده نوئی د تگ اجازه ورته وکړه، پدروازه کښی د ابن المقفع میریی په مخه ورغی او هغه ورته وویل:

«زما بادار څه شو؟» ابراهیم ورته وویل: «ماندی لیدلی».

میریی وویل: «په تا پسی دننه درغی» ابراهیم وویل: «ماندی لیدلی»!

او غوښته ئې چه بېرته سفیان ته ورشی، مگر چاور پرې نه ښوه نو عیسی بن علی ته چه د ابن المقفع میریی هم ورسره ؤ راغی او د ابن المقفع میریی ژړل او ویل ئې:

«سفیان زما بادار مړ کړ».

نو عیسی وویل: «داڅه دی؟» ابراهیم ټوله قصه ورته وکړه. نو ده ورته وویل:

ورشه سفیان ته او ورته ووایه چه ابن المقفع ایله کړه که دې نه وی وژلی، او که دی وژلی وی قسم پخدای چه خون به ئې در څخه وغواړم، او پدې باب کښې به د هیڅ کوښښ څخه لاس وانخلم.

نو ابراهیم سفیان ته ورغی،

---

دا هغی جملی ته اشاره ده چه ابن المقفع دامان په لیک کښی چه د منصور له خوا ئې عبدالله بن علی ته ورلیکلی وه.

او دعیسی خبره ئی ورته وکړه
هغه یه ځواب کښې ورته وویل :
ابن المقفع ماندی لیدلی ..!
دی ئی عیسی بن علی ته
ورولیږه، او عمر بن جمیل ئې له
دفتره راوغوښت او ورته
وې ویل :
دا کازوی ته دی تعجب نکوی
چه دعیسی له خواشخه ماته راځی
چه عیسی وائی تا ابن المقفع وژلی
دی .
عمر ورته وویل :
دده شه گناه ده، هغه یوه خبره
ورته کړی وه او تا ته ئې وکړه
نوئی وویل :
رښتیا وائی، ښه او س خپله
نظریه راته ووایه چه ستا څه
فکر دی .
نو عمر ورته وویل :
هر واغجن رایه نلری . زه
نه یم خبر چه تا ته څه رایه در کړم،
زه تر هغو تا ته هیڅ رایه نشم
در کولای څو ته رښتیا راته ونه
وائې که ته پر ابن المقفع قادر ئې
زما یوه رایه ده، او که
نه ئې پرې قادر نو زما رایه بله
ده سفیان وویل:
ما هیڅ ندی لیدلی ...

عمر بن جمیل ورته وویل :
ځکه چه ته دلته وا لې ئی
نو عیسی بن علی تا ته هیڅ ضرر
نشی در رسولای، مگر دی به
دامیر المؤمنین سره په کوفه کښې
خبری وکړی او ستا دپاره تر هرچا
ابوایوب لوی خطر دی .
که ئی هغه مرسته وکړی
ضرر دررسولای شی، او که هغه
لاس ځنی واخلی ممکنه ده چه
عیسی دی تا ته هیڅ ضرر
درونه رسولای شی.
عیسی بن علی بوې ډلی ته امرور کړ
چه په ښار کښې جاروو هی چه سفیان
بن معاویه ابن المقفع وواژه
پدی پسی دعلی اولاده منصور ته
ورغله د سفیان څخه ئی د
ابن المقفع خون وغوښت، او عیسی
کیفیت منصور ته ولیکه او وروې
لیږه، پر منصور د «اکتب الخق»
وژل ډیر سخت ولگیده او دخپل
مربی ابوالخصیب په لاس ئی سفیان
بن معاویه ته یو فرمان ورواستاوه
او پکښې لیکلی ئی وه :
ابوسفیانه ! ابوالخصیب می
درولیږه که ابن المقفع ژوندی
وی ده ته ئی په لاس ورکړه، او که
دې ورنکړ ماده ته ستاد معزولی

او درا وستلو امر کړی دی .
نو ابو سفیان ابوالخصیب ته
وویل:
زه نه یم پرې قادر او را څخه
ضایع شویدی .
نو ابوالخصیب دی لکه خلیفه
چه امر کړی ؤ بندی کړ، سفیان
دخپلی کورنی دخوتنو سره کوفې
ته راوان کړ شو. دغو کسانو
ته یوه سړی وویل چه ابوایوب
وویني او داسی خبری ورسره
وکړی چه وه ئی بیروی مگر
ډیر نه او یداسی لهجه ورسره
وزغیږی چه هم وبیریږی او هم
ئی دلاسه ورنکړی بلکه دځان
ئی کړی، او په خبرو کښې دې
ضعف او کمزوری نه وښکاره
کوی چه په هیله او امیدوی
نو دوی هم هغسی وکړه .
ابوایوب سفیان ته بندیخانی
ته ورغی چه ستر گی ئی پرې ولگیدی
ورته وې ویل :
ابوایوبه! ما ته دامعلومه ده
چه که سلامت پا ته کیدم
تاسره به پاته یم، او که تکلیف
راو رسیږی ستاله خوا به رارسیږی
او ستا په رایه به وژل کیږم ..
ابوایوب وار خطا شو او وې ویل:

پاته په ۲٤ مخ کښې

ښاغلی محمد حسن «سایی»

# کار او کارګر

کار یوه پەزړه پوری کلمه او یومقدس مفهوم دی .

او کارګر هغه مفید انسان دی چه ترقی او تمدن او نور اجتماعی مؤسسات زیاتره دهغه دارندې او «تولیدی» حرکت نتیجی او محصولات دی .

نو بنا پدې هر څومره که څوك دغه سپیڅلی مفهوم او ښکلی کلمه و څېړی ښائی او ځای لری .

خو له بده مرغه د کار او کارګر موضوع دې «ګرندی او قرار دادی ؟!» لیکوالو دومره متبذله او معموله کړیده چه انسان نورباید «په تېره بیا» په جرائدو ، ورځپانو او مجلو کښی د کار او کارګر نوم له سره وا نخلی او نه پری څه و لیکی ځکه که څوك دا زحمت په ځان و منی چه ورسته لدې د کار او کارګر واقعی مفهوم په علمی صورت خلکوته تعریف کړی . بیا هم دهغه زحمت

(پاته په ۲۵ مخه کښې)

---

(د ۲۳ مخ پاته)

ز ه ....

سفیان جواب ور کړ :

هو ته! ځکه چه ستا دلاسه پوره ده چه زما څخه مدافعه و کړې.

نو ابو ایوب ور ته و و یل :

زه به ستا له کار څخه لاس وا نخلم

او ابوجعفر منصور ته ورروان شو ، ور ننووت او ورته وې ویل:

امیرالمؤمنینه اسفیان بن معاویه څه کړیدی ، دهغه سړی دغمه څخه ئې خلاص کړی یې ؛ چه ستا بدځنی را تله او ته ئې دا کاد زامنو دبدی څخه ژغور لی ئې ؛

نو ابوجعفر وو یل :

«اکتب الخلق» او په تولو ادباؤ کښی پرما ګران ادیب ئی وژلی دی ...

ابو ایوب ورته وویل :

هغه دی امیر المؤمنینه! هېردی چه ابن المقفع د عبدالله بن علی دامان په غو ښتو کښی تا ته لیکلی وه او ستا پر مقام ئې جرئت کړی ، او ستا دخلع دیاره ئې دسیسه او حیله جوړه کړی وه ملت ئی درته راپورته کاوه.

ابوجعفر ورته وویل :

چه دده ادب دده شفاعت او دده علم او فضیلت دده د ګناه او خطا جبیره کوی ، او دده ګذاره په خلقو کښې ددې وړده چه وبخښل شی ، او زه دخپل قدر لویه برخه ده ته ور کوم او ډېرئې خوښوم.

نو ایوب ورته و ویل :

اختیار ستا سودی بادا ره اوس خو پښه ده څه چه ستا خو ښه وی هغسې و کړه ، مګر سیاست نه دادب شفاعت اروی ، او نه د علم او ادب قدر ته ګوری ، او نه ښواخلا قو او ښې ګذاری ته اهمیت ور کوی.

نو منصور د سفیان د مجازاته څخه لاس و نیوه او ایله ئی کړ او بیر ته ئی پر خپل کار ودراوه او ابن المقفع د ۱۴۲ هجری کال پحدود و کښې د در باری کسانو د حسد و نو او بغضونو و عناد و نو په قربانی کښی و لاړ.

کوم ځای نه نیسی، نه ئی څوك لولی او نه ورته څوك غوږ نیسی

دا خو ځکه چه لوستونکو همیشه د کار په متعلق د (کړندی؟!) لیکوالو په (قرار دادی مقالو؟!) کښی دغه مکرر ي، مجردي او مزخرفي جملي لکه: دا خو تولو ته ښه معلومه ده چه کار ښه شی دی، ډیر ښه شی دی، بیخی ښه شی دی، ډیری فائدی لري، ښې نتیجی لری، خوږی مزي لری او داسی نور مجرد او مطلق مهملات دومره اوریدلی او لوستلی دی چه نور نو بې چاره ؤ ته د کار او کارګر په متعلق د مطالعې حوصله هیڅ نده ور پاته.

کاشکې بوا ځې د کار او کارګر مفهوم او کلمه داسې مبتذله او معموله شوې وای بیا هم دومره تاوان مونه ؤ کړی او تلافی ئې هم په لږ زحمت کیدای شوای.

مګر بدبختی دا ده چه ټول هغه موضوعات چه باید ولس ته په یو علمی صورت افاده شی پخوا له صحیح او علمی افادې نه (کړندی؟!) لیکوالو متبذله او فرسوده کړی دی.

زه دا ادعا نه کوم چه ګوندې زه دادی اوس د کار او کارګر په متعلق تر هر چا ښه خوند ور او علمی مضمون لیکم.

منتها دومره وایم چه که سړی دیو مضمون د لیکلو دپاره تتبع کوی، کتابونه ورته ګوری، دقت کوی او په زحمت او تأمل ئی لیکی، ارو مرو مضمون که په هره موضوع کښی وی علمی او خوند ور او ثقه راځی.

او یو لیکوال هم باید دې ته متوجه وی، کله چه مقاله لیکی یعنی دولس سره خبرې کوی نو د ولس احترام او مینه دې هیڅکله نه هیروی. ځکه دیو محترم او محبوب (فردوی که جامعه) په حضور بې باکی او بې ادبی کول لویه ګناه ده او د هغو په مخ چټیات غږیدل او ..... پوره بې ادبی ده.

نو یو رښتینی لیکوال باید نه بې ادبه وی او نه ګناهکار فرضاً که ادب نشی کولای نو بې ادبی خودې (هغه هم د څه شخصی مفاد دپاره) نه کوی!!

لپاره ددې چه زما دغه پورتنۍ خبرې هم د (کړندیو؟) لیکوالو په شان او ږدې، بې معنی، مکررې او خسته کنې نشی نو همدلته ئې لمنه لنډوم او په خپل مطلب (کار او کارګر) باندې غږ ېږم:

اجازه را کړی، چه د بحث د آسانتیا او سمې افادې په منظور د کار او کارګر موضوع په دغو پنځولاندې برخوو ېشم:

## ۱: کار د طبیعی قانون له مخې

د طبیعی قانون له مخې کار حرکت او خوزېدل دی. په طبیعت کښې هر هغه ژوندی او خوزنده عنصر چه له حرکت او خوزېدونه ولوېږی هم له منځه ځی او هم فاسدېږی مثلا: خوزندې او روانې او به هر کله چه له کار (حرکت) نه ولوېږی او ډنډ شی، نو له یوې خوائې د تبخر او تجذب عمل سریع کېږی چه په نتیجه کښې او به ډېرژر (ظاهراً) له منځه ځی او له بلې خوا میاشی، مچان چنجیان او نور مردار او پلید شیان ترې پیدا کېږی چه د هغو

په‌اثر بدبوی او فاسد ښزی. دند خولا ثه چه حتی دهغې ویا لې او به‌چه نسبت بلې و یا لې ته کراري او مړې روانې وی دطبی مقرراتو سره سم دومره د ثکلو ور نه‌دی.

نولپاره ددې چه انسان دطبیعی قانون له‌مخې فاسد (ناروغ) او له منځه ولاړ نشی باید حرکت (کار) وکړی.

هو! انسان باید کار (حرکت) وکړی ځکه طبیعت دده وجود ته‌دحرکت او کار پوره استعدادونه او انرژی ورکړیدی. او طبیعت دخپل دې احسان په‌مقابل کښې له انسان ثخه کار او حرکت چه هغه‌هم پخپله‌دانسان په گټه تمامیږی غواړی. او د طبیعت له‌دغې قانونی اوجبری غوښتنې سره مجادله کول، ځان فاسدول او له‌منځه وړل دی.

طبیعت له خپلو هغو عناصرو ثخه چه دحرکت او کار استعداداوانرژی‌ئې نه‌دورکړی نه ترې حرکت او کارغواړی او نه ئې دومره ژر لکه ژوندی عناصر فاسدوی او نه‌ئې له‌منځه وړی لکه جمادات.

ولتر وائی: «کار نه کول له‌ژوندنه کولو سره پوشی دی» یعنی مرگ او بیکاری دواړه یوه‌معنی لری نو یدې صورت انسان باید حاضر نشی چه‌ژوندپه‌مرگ هغه‌هم داسې په آسانۍ بدل کاندی او انتحار (ځان وژنه) چه دناکامۍ او ناامیدۍ او بې همتۍ لوی مظهر گڼل کیږی وکړی.

## ۲: کار دتکامل دقانون له‌مخې

کوم استعدادونه چه طبیعت انسان ته‌ورکړیدی هغه باید وروزل شی ترڅو چه انسان ترې استفاده‌وکړای شی. دغه استعدادونه یوا ځې په کار اوزحمت روزل کیږی او انکشاف کوی او بالاخره دزمان او مکان په قید تکامل مومی.

انگلس وائی: یوا ځینی اولمړنی علت چه انسان ته‌ئې دغه موجوده شکل او قواره ورکړه هغه یوا ځې کار او زحمت و، او که نه اوس به هم لکه پخوا دانسان لاسو نه له پښو ثخه اوږده، وجود به ئې تول په‌و پښتو پټ، مغز به ئې ورو کی، ژبه به ئې گونگه ژوند به ئې ساده و، او دا (بیز و گانو) پشان به‌په ځنگلونو کښې دونو د پاسه او سیده، (داچه کار او زحمت دانسان پدغه تحول کښې کوم رول لوبولی دی، انگلس لو یه شرحه‌ورکړیده چه دلته‌مایوا ځی د کار او زحمت اهمیت دانگلس له نقطهٔ نظره وښود) دانگلس دغه‌خبره د تکامل دطبیعی قانون له‌سترو پرنسیپونو ثخه ده. رښتیا هم داده چه که‌ثوك خپل د وجودیوعضو مثلا: (مغز) په کارواته چوی نو انکشاف نه کوی او یا که ثوك دخپل یو لاس ثخه هیڅ کار وانخلی نوهغه‌لاس ارومرو (لکه: کښې لاس چه اوس مونږ سره د ښی لاس پشان هغسی مرسته نکوی) بیکاره کیږی او لکه شپږ مه گونه وجود ئې بیادومره لزوم نلری اودانسان په‌بدن کښې بدښکاری او بالاخره د طب په اصطلاح د مورکوی او وچیږی.

نو د طبیعي تکامل د قانون له مخې پکار دی چه انسان خپل ټول وجودي استعداد و نه په یو متناسب ډول چه طبیعت هر یو دیوې ټاکنې وظیفې داجرا کولو د باره پیدا کړ بدی په هماغه خپله طبیعي مجرا کښې پکار واچوي تر څو چه انکشاف او تکامل وکړي ځان او جامعې ته مفید واقع شي.

## ۳: کار د اجتماعي او فردي اقتصاد له مخې

کار د فردي او اجتماعي اقتصاد له مخې هغه حرکت دی چه د هغه په اثر یوشي ځان او یا نورو ته تولید وي. د کار له پورته تعریف څخې داڅر ګند ېږي چه تولید د کار او کارګر محصول آوز ېږنده ده. مارکسیزم کار، د کار وسائل تولید، د تولید طرز، د تولید مناسبات (چه ټول د کار او زحمت نتیجه ده) د جامعې مؤلده قوې ګڼي.

او وائي: د تولید روابط له مؤلده قواو سره پوره اړیکي لري، بشر کله چه خپل د تولید طرز ته تغییر ورکوي د هغه ټول اجتماعي روابط تغییر مومي او زیاتوي ئي چه د اداو بوژرنده د غلامۍ رژیم، بادي ژرنده د ملوك الطوائفۍ رژیم. او بخاري ژرنده د سرمایه دارۍ رژیم (چه ګرد د کار محصول دی) منځ ته راولي او بنا په همدې وائي: چه که د بشر تاریخ له سر نه تر پایه پورې ملاحظه کړو اصولاً د هغه په جریان کښې پنځه ډوله د تولید اساسي روابط وینو لکه:

۱- د اشتراکۍ رژیم
۲- د غلامۍ رژیم
۳- ملوك الطوائفۍ رژیم
٤- د سرمایه دارۍ رژیم.
٥- د سوسیالستۍ رژیم.

رښتیا هم داده چه که یو څوك خپل تېلي څراغ په برق او خپل تغر په کوچ او کنډول په ښیښه ئي ګیلاس بدل کاندي نو لکه هسې چه پخوائي فکر وه بیا هغسې فکر نکوي. ځکه لدغه بدلون سره سم هیلې او خواهشات او اړتیا ئي زیاتېږي او بل رنګ نیسي ژوند ئي بل راز کېږي، په خوي او اخلاقو کښې ئي هم بدلون راځي او بالاخره روحیه او طرز تفکر او کلتور ئي هم په هغه زوړ حال نه پاته کېږي، په همدې ډول هر کله چه یوه جامعه خپلو اجتماعي مادي تولیداتو ته (چه ټول د کار او کارګر په اثر کېږي) بل رنګ ورکړي د هغو د ایجاب او اقتضاء سره سم بل مدنیت او بل سیاسي او اقتصادي رژیم د زوړ رژیم په ځای منځ ته راځي.

یعني مطلب دا چه د کلتور جوړوونکي د ترقۍ او تمدن راوستونکي د سیاسي او اقتصادي رژیم ورك کوونکي او پیدا کوونکي یواځې کار او کارګر دی.

د کار رول مو په اجتماعي اقتصاد کښې په پورته ډول وښود اوس به راشم دې ته چه کار په فردي اقتصاد کښې څه رول لري.

سید جمال الدین «افغان» وائي: هغه بز ګرچه د تخم شیندلو په وخت کښې وزګار کښېني د درمندونو په وخت کښې به ئي لاس او کندو تش پاته وي، په همدې ډول بنجامین فرانکلن هم وائي: ولېږه د کارګر کور ته ګوري خو د ننوتو جرأت نکوي.

د مخه مو وویل چه کار هغه حرکت دی چه د هغه په اثر یوشي

(وشی کړای چه دبشرله ډېرو سترو اووړو هیلواواړتیاوڅخه یوه هیله ترسره اویا کوم احتیاج لیری کاندی) تولیدشی. نوپدی اساس هر څوك که هر څومره کار کوی په هماغه اندازه تولیدات منځ ته راوړی چه دغه تولیدات دهغه له ژوند او طرز تفکر سره مستقیم تناسب لری، یعنی که څوك دخپل کار اوزیار په اثر زیات شی تولید کړی نواقتصادی ژوند به ئی هم هماغومره زیات ښه وی او که لږ شی تولید کړی ژوند به ئی هم په هماغه سویه او اندازه وی.

(باید وویل شی چه د یوه کارگر د کار اوژوند ترمنځ دسویی مستقیم تناسب یواځی په سوسیالستۍ «تقریباً اشتراکیت» کښی صدق کوی، نه په کاپیټالستۍ کښی ځکه په کاپیټالستۍ «سرمایه دارۍ» کښی چه هلته په هر څه کښی شخصی او فردی تملك آزادوی نوهلته ددې ډېر امکان شته چه داستثمار، غلا، رشوت، غوړه مالۍ اوله نورولیاروبی لدی چه کار وکړی شخصی او فردی ملکیت پلاس راوړی یعنی کار هیڅ مگرژوند لوکس ممکن دی).

خوبه هرحال اوپه هر رژیم کښی چه وی کار خپل اجرت لری او کارگرخپل مزد، لږوی که ډېر اخلی. نواوس لازمه ده چه یو انسان د یو عالی او شرافتمند انه ژوند گټلو اولرلودپاره کارو کړی، هر کار چه وی ټیټ وی او که لوړ، فرق نکوی ټول یو «کار» دی او کار هم مقدس. البته یو عالی او شرافتمند انه ژوند کول یو گرانبها شی دی او هر گرانبها شی هم دومره په آسانۍ لاس ته نه راځی. خودهر گرانبها څیز د پلاس راوړلو یواځینی علت اووسیله کار اوزحمت دی او که نه د پستۍ او بی شرفۍ ټیټ ژوند کول خو دومره څه سخت کار ندی. مطلب داچه د کار په اثر د انسان اقتصادی ژوند ښه کېږی کله چه اقتصادی ژوند ښه شو نوهلته فرصت پیدا کېږی. چه خپلو او یاد خپلو منسوبینو تحصیلاتو ته ادامه ور کړی، مطالعه و کړی په موضوعاتو کښی تفکر و کړی بالاخره یوشی کشف او یا اختراع کړی یا یو کتاب ولیکی او یا دجامعی دخیر او نجات د پاره یوستر گام واخلی.

که مونږ د زیاترو نوابغو، فیلسوفانو، مخترعینو او نورو سترو رجالو بایو گرافی (دژوندانه حالات) مطالعه کړو؛ څرگندېږی چه د وی ټول دخپلی جامعی له متوسطی طبقی څخه او د محیط او زمان د ایجاب او اقتضا سره سم منځ ته راغلی دی. ځکه متوسطه طبقه هغه طبقه ده چه نه لکه لوړی طبقی په عیاشۍ اوتن پرورۍ او خود خواهۍ لتاړ او نه لکه کښته طبقی د گېډې په دائمی غم اخته دی او دا هغه طبقه ده چه له یوی خوا کار کولو ته متحاج دی او کار کوی

او له بلې خواد خوراك او پوښاك له در كه دومره اند ېښمن ندی نو بنا پدې دغه طبقه وخت او فرصت لری چه د نورو اجتماعی مسائلو او اجتماعی موسساتو به شاو خوا كښی تفكر او مطالعه وكړی.

او په همدې ډول په دنیا كښی ټولې هغه خیریه او اجتماعی موسسات چه موجودې وی او موجودې دی هغه ټولی دمتوسطی طبقې له خواد تیوری (نظریه) او تقریباً د اقتصاد له مخې تأسیس او تقویه شوی او منځ ته راغلی دی.

د فرانسې لوی انقلاب، د استعمار او استثمار په ضد هند، اندونیزیا او شمالی افریقا مجاهدې او مجادلې هم دغې طبقی له شهكاریو څخه گڼل كېږی.

داو، كار دفردی او اجتماعی اقتصاد له نقطهٔ نظره.

## ٤: كار او كارگر او اخلاق

خوشبختانه ـ اسلام نسبت الوادیانو ته زیاتره یو عملی ت دی.

: خدای په قرآن شریف كښی فرمائی: «لیس للانسان الا ماسعی» یعنی هېڅ نشته د انسان د پاره بې له كار او زیارنه

حضرت محمد (ص) چه تر بعثته پخوا پخپله بو كار گرؤ او وروسته له بعثته لوی خدای ډېر دروند او ستر كار «پیغمبری» ور په غاړه كړ خپل امت كار او زیارته داسی رابولی:

«هغه څوك چه پدې دنیا كښی خوار دی په هغی دنیا كښی به معذب وی (١)»

بل ځای كښی فرمائی: سهار او ماښام د خدای تعالی عبادت كوی او ورځ مو په كار او كسب تېروی! د حضرت محمد (ص) دعا به همېشه داوه: «خدایه! ما له لټی او تن پروری نه وساته!!»

په همدې ډول فرمایی: خدای تعالی ته هغه څوك نژدې دی چه په كار او زحمت ژوند كوی، نه په سوال.

په بل ځای كښی كار ته داسې ترجیح ور كوی: «څوك چه د ځان او نورو د ښیگڼو د پاره هڅه (كار او كوشش) نكوی د خدای په نزد كوم اجر نلری.

حضرت عمر (رض) هم د بېكاره سړی دماغ داسې یادوی: «د بېكاره سړی دماغ د شیطان خونه ده، له كار كوونكې سړی څخه شیطان لیرې تښتی.»

د كار د اهمیت او لزوم په باره كښی دیدرو (ختیز پوهاند) داسې وائی:

د كار د گټو له جملې څخه یو دادی چه ورځې لنډوی او عمر اوږدوی.

ولتر وائی: كار انسان لدې درې لویو بلاو، څخه ژغوری لكه: افسردگی، فسق او احتیاج. پاسكال وائی: د ټولو مفاسدو مصدر بېكاری ده هر حكومت او دولت چه وغواړی دغه عیب (مفاسد) لیرې كړی باید د امكان په اندازه خلك كار ته ور وبولی.

بالاخر یو ختیز پوهاند چه نوم ئی راڅخه هېر دی په یوه عجیبه او عصبانی لهجه وائی:

(١) د شیرخان ناشر مرحوم د هزارو یك حدیث كتاب.

هر څوك چه درته وائی بېکاره
هوسائی موندلی شی، هغه خائن.
دی او تېر باسی دې. په همدې
ډول د کار او کارګر د فائدی
او اهمیت په شاوخوا کښی د دنیا
ډېرو سترو رجالو ډېرې کلیې
قائمې کړی او ډېرې سپارښتنې
او توصیې لری چه دلته به زما په
عقیده همدومره بس وی.

رښتیا هم داده چه ښه او نېك
مرغه ژوند، فضیلت او تقوی
د کار معلول او محصول دی
له کار نه شته او هستی زېږی
او بیا د دنیا ټول ښه د «صواب»
او اخلاقی کارونه په هستۍ
او شتو سره کېږی.

او یو کارګر دومره وخت نلری
چه فسادونه او دسیسی جوړی
کړی، غیبت وکړی، چاپلوسی
او غوړ مالی وکړی، نفاق او
ګوندی وچلوی او یائی واچوی،
لارونیسی، فمار ووهی او ....
ځکه دغه ټول مفاسد له بېکار
او بېکارۍ او بی همتونه زېږی.

## ۵: کار او اصول او د کار وسائل

ډېر خلك دي چه شپه او ورځ
کار کوی، زحمت باسی او سختۍ
تېروی خو بیا هم له خپل ژوند
او کار څخه شکایت لری
او قناعت پرې نکوی. البته قناعت
نه کول په تېره بیا پدغه مورد
کښی یو معقول او مبارك او لازمی
شی دی او دا چه له خپل ژوند
او کار څخه شکایت لری؛ دا
د کار نقص او نتیجه نده بلکه
په کار کښی د اصول او فن
مراعات نه کول او د کار وسائل
پلاس نلرل دی.

د اصول مراعات په تېره بیا
په کار کښی یو حتمی او لازمی
شی دی.

د منطق د علم په اساس اصول
هغه ډېره لنډه لیاره ده چه انسان
ډېر ژر او په آسانه خپل مطلب
ته رسوی. نو یو کارګر که په
کار کښی د اصول او فن مراعات
نکوی د هغه شکایت پداسې
حال کښی چه یو حتمی امر دی،
بی ځایه هم ګڼل کېږی. مثلاً
که څوك وغواړی چه یوه لویه
ډبره په بل مخ واړوی او یا بل
چیرته ئی یوسی، که هر څومره
په ځان زحمت وګالی بی لدی
چه ځان خوار او ستړی کړی
هېڅ ئی پلاس نه ورځی. څرنګه
چه د ډبری اړول او له ځایه
خوزول یو کار دی او هر کار
ځانته اصول او لیاره لری نو
د ډبری داړولو او خوزولو
اساسی چاره او اصلی لیاره هغې
ډبرې ته داړم تمبه کول دی.
اړم د درندو او لویو شیانو د پورته
کولو او خوزولو د پاره بهترین
اصول او اساسی لیاره ده. نو پدی
اساس لپاره د دې چه یو کارګر له
خپل ژوند او کار نه شکایت
ونلری تر هر څه دمخه لومړی
باید د کار اله (تولیدی وسیله)
ولری او بیا د هغی وسیلی اصولی
او فنی استعمال وشی کړی.

پرولتاریا هغه کارګر دی
چه له خپل ژوند څخه ناراضی
او له خپل کار څخه ګیله من
دی دا خو ځکه چه د کار الې
(تولیدی وسیلی لکه فابریکه،
ماشین او داسی نور) د بل چا
(سرمایه دار) په لاس کښی دی
او دغه پرولتر (بې وسیلې کارګر)
په هغه ماشین خانه او فابریکه
کښی کار کوی د کار زیات
مصحول ئی د سرمایه دار په
جیب کښی لوېږی او سرمایه دار
د ده د زیار او کار په مقابل کښی
محض دومره مزدور کوی چه

له لوږې مړ نشي، ځکه که کار گر
له لوږی مړ شي نو فابریکه او
ماشین به څوك و چلوی . دغه
بیچاره «پرولتر» سره لدی بدمرغه
ژوند او په ورځ کښی اته نه ساعته
سخت کار او زحمت نه وروسته
له هر لسو کالو یو ځل چه د فابریکی
تولیدات له حده زیات او تقاضا
او فروش ئی لږ شی نو سرمایه دار
خپل نور تولیدات بس کوی
او کار گرانو ته ځواب ور کوی
چه د دغه اقتصادی بحران په اثر
بی لدی چه سرمایه دار او یا کومه
بله موسسه د کار گر ژوند په دغه
وخت کښی تضمین کړی په
زرها و کار گران د ډوډۍ .
کالی ، دوا او د نورو شیانو
د نه لرلو په سبب له ژوند سره
وداع کوی دا بدبختی دوی د دې
د پاره نه گالی چه گوندی په
هېواد کښی ئی قحطی او نشتوالی
دی بلکه د شتو د ډېر والی له
درکه ئې گالی سرمایه دار
خپلو تولیداتو ته د تقاضا او فروش
د پیدا کولو په منظور خپل زیات
شوی مال حتی په سین کښی
اچوی خو کار گر ته ئی نه ور کوی
ولو که ومری هم (لکه څنگه چه

په برازیل کښی په خرورو خرورو
چای په اتلانتیك کښی واچول
شو) په ۱۹۱۷م کال دا کتوبر
په میاشت کښی د روسیې
د پرولتاریانو انقلاب د دې
د پاره ؤ چه گرد تولیدی وسائل خپل
لاس ته راوړی او پدغه لیاره
کښې وروسته له ډېرو مشکلاتو
بریالی هم شول .
په همدې ډول یو کار گر ته د دې
له پاره چه د خپل کار او زیار
ټول محصول پخپله د ده لاس ته
ورشی نو لومړی باید هغه اله
او وسیله چه دی پرې کار کوی
پخپله د ده وی او بیا د دې لپاره
چه کار گر د خپلې تولیدی
وسیلی نه پوره گټه وکړی باید
د هغې وسیلې او الې په صحیح
چلولو باندې هم وپوهېږی
مثلاً که یو سړی په ډرایورۍ
نپوهېږی او په اشټرنگ کښینی
بی لدې چه هم موټر او هم خپل
او د نورو ژوند له خطر و مرگ
سره مخامخ کړی نور ئې څه
پلاس نه ورځی . او یا یو څوك
چه نائیتوب ئې نه وی زده او
د چا سر او زیره کلوی گمان
نه کوم چه بیا سړی ور ته

ورشی . نو څرنگه چه پدغه حال
کښې د دغه شوقی نائی «ډم»
د کار دغسی عرضې ته هېڅوك
تقاضا نکوی وروسته له څه مودی
د ده شکایت او گیله له خپل کار
څخه شروع کیږی او ځان په
بدبختۍ لتاړوینی .
البته د کار د اصول او فن
زده کول د یوه کار گر د پاره په
لومړنیو اړتیاو کښې گڼل کیږی
او د یوه کار د فن او اصول زده
کول او یا د کار د وسیلې او الی
پلاس راوړل هم دومره په کراره
او آسانۍ نه کیږی انسان
باید پدغه لیاره کښې له پوره
حوصلې او استقامت څخه کار
واخلی .
**ارنولډ تاین بی** پخپل د تاریخ نوې
فلسفه نومې کتاب کښې وائی چه
مفاد ئې دادی: د تمدن او ترقۍ
منځ ته راتلل د مشکلاتو او سختیو
مرهون دی نه د رفاه او آسودگۍ
د کار په اصول کښې یو بل شی
چه هر کار گر حتماً باید هغه ته
ارزښت ور کړی د اقتصاد د عرضې
او تقاضا قانون دی که دغه
قانون څوك په نظر کښی نه نیسی

پاتی په ۲۳ مخ کی

ښاغلی محمد صدیق پسرلی

## د خیال دنیا

تازه سحر و، غوټۍ په باغ کښې — دغه دم مخ و، په شبنم ولی
گلاب په وینو کښلی دیوان خپل — بورا ته نوی و، غوړ ولی
ور غلم سیل ته د تازه گلو — مرور زړه خپل تر لاس نیولی
که گورم گرزی ها خوا، دېخوا ته — له ما نه زښته پخوا راغلی
بوډا ما لیار او په مینه گوری — چمن د گلو، په زیار کرلی
کله د گلو تماشا کړی — کله بلبلو ته غوږ نیولی
کله ئی په سروی نظرا وزړه کښې — د تېر دوران یاد ور گرزولی
تا به وې: سروه وه فطرت جوړه — د تېرو مینو د یاد گار څلی
یا د ښایست د بڼو غشی — و، د آسمان ترشنه زړه ختلی
د بڼ پخوا کښې دا و بوډنډ و، — د آئینې مخ ته سپین، سپیڅلی
د بڼ ښایست ټول و منعکسه — لکه زما زړه کښې ستا تصویر کښلی
یو رسام ناست و، د ډنډ په عاړه — لکه صیاد چه ښکار ته وی غلی
نظر په ډنډ، ډنډ کښې بڼ ته — سامان در سم مخته او ډلی

---

د ۳۱ مخ پاته

له کار څخه دهغه مایوسی او له خپل ژوند څخه ئی بېزاری یو حتمی امر دی، مثلاً یو ختګر چه دهغه یو اځې پخسه و هل زده وی او په خشت کاری او سمټ کاری هېڅ نه پوهېږی که دی یو ځای ته د کار کولو دپاره ځی چه هلته پخسه و هل قطعاً منع دی او یا رواج نلرج دی. نو طبعاً خوا شینی او نا امیده بېرته گرزی او خپل ژوند او روزگار له بد بختۍ سره لتاړ وینی. نو دغه ختګر ته ښائی چه هغه ځای ته د کار کولو دپاره و لاړشی (یعنی خپل کار په هغه ځای کښې عرضه کړی) چه د ده کار ته په هغه ځای کښې تقاضا وی داو، د کار د اصول په شاوخوا کښې یو څولنډې خبرې او خپله مقاله هم په همدې ځای کښې بس کوم او لوستونکی په خدای سپارم.

نا څا په ځو ز شو د بلبلا نو — دباغ څښتن دی، غل ر الیږلی
د ګلدان زیب ته پر ېکوی زړونه — مه پر ېږدیء پاڅیء، دغه نتلی
ظالم له څا ګویو، یورا ټول کړ ل — دما لیار زړه چه و، پرې تړلی
هره غوټۍ چه د ګلد ان وړ وه — هر یو ګلاب چه ووغوړ ېد لی
بلبل بوې خولې په ارمان والوت — بو را دیو لطف په حسرت غلی
رسام نیمکا ره تابلو کړ ه ټو له — چه ګل دډ نډو، له زړه و تلی
یوما لیار ناست و، نظر آسمانته — په خوله آهونه، په زړه ټپلی
نو ر رنګ او بوی هم نشو، ورپاته — ز ه هم ترې ولا ړم، لمرو، ختلی
دادرسته ور ځ وم دغو افکارو — له کارو با ر ه دژوند ایستلی
«څو، څو پرها ره تاز ه کوی څرخ — چه څو آرام کړ ی یو پرهار جلی
که څو کورو نه ړ نګېږی خیردی — خوچه آبادشی د یوه کورښکلی
باید چه تېر شی تر څو سر و نو — دیو ې خېټی سو دانیو لـی»
شپه هم په هسی چو رتو سبا شـو ه — سحرر وا ن شو م قصر ته پلی
د هغو ګـلو ونـند ا ر و تـه — چه ئی ګلدان کښی و، ځای نیولی
په هغه ځای کښی چه هلته هرو خت — پناه را و ړ ی چو ر تو ښا غلی
په ښه ګلدان کښی د ګلو ځای و، — خو پرونی رنګ ئی و، با یللی
دتنګ جهان د غـه بددو د چـه — د د ې لپـا ر ه، ها پر ز ولی
د بلبـلا نـو د ستر ګـو تو ر شو — د خا د ما نو د ستر ګو خلی
په ډېر ذلت ئی کاخ ترې خا لی کړ — کاشکی می نه وی دا حال لیدلی
بله ګېډۍ ئی را و ړ ه د ګـلو — ګلد ان خالی شوور ته اوولی
ما ته حا صله د ا تجربـه شو ه — چه ګل په خپل وخت وی نازولی

د و ه ور ځی ته ئې د وه ور ځی ز ه یم
شا مد ا م نه و ی هر څوك منلی




ښاغلی محمدعالم «اتمان»

# روکیه!

ها سپېره مخ وچې شو نډې — ها وچ زېړز بېښلې وینې؟
ها په نس وږی په تن لوڅ — ها خوارۍ خوړ لی وینی؟
ها د کپ ډو ډۍ په هیله — ها ارمان وژ لی و ینی؟
ها داوړی غر مو سوی — ها تړ کو و هلی و ینی؟
ها چه ژپ، ژوپ په خولو کښی — ها بار و ځبلی و ینی ؟
ها تنا کې چاودی پښی لاس — ها پښیا بل پلی وینی؟
ها څپو لی سر و ېښتا ن هم — ها ګر ېوان شکېدلی وینی؟
ها د بل تر لښته لا ندی — ها روز ګار نتلی وینی ؟
ها د نورو لاس کتوی هم — ها ار زور تلی و ینی ؟
ها چه شپه ورځ بل ته کار کړی — ها له عقله پلی و ینی ؟
ها چه مری دبل په مخ کښی — ها نا پوه نا و لی و ینی ؟
ها چه سری وینی تری څاڅی — ها چړ وور ز لی و ینی ؟
ها انسان دی بی هو نره — نا پوهی یی په وار شوې
«داتمان» په خوله یی نه کړه — بی بختی یی په وار شوې

دپښتنو پاجهانو هغه اباتۍ چه ددوی دامپراطورۍ په وخت په ډېلی کښې شوی دی- داڅیره دسلطان سکندر دقبر یو بله برخه ښئی



دادسلطان سکندردقبربوه بله لویه ډبره اودقبر یوه برخه

ج

بادشاهان به هسی خوښ نه وی په تاج
لکه زه خوښ یم د ترکو په تاراج
همېشه په زور د حسن بتان غواړی
دا رم له ښا پېرو څخه خراج
مبتلا په هسې درد یم نه پوهېږم
چه طبیب مې نه پوهېږي په علاج
شیرینی مې د وصلت کړه هجر هېره
آموخته مې شو په دې زهرو مزاج
چه ناجوړه مسیحا شی په اسمان کښې
ستا خندا غواړی د پاره د علاج
که دې زلفې په شانه کړې رضامند یم
څو وانه خلې د ختن د مشکو باج
د بل عیب پوشیده لره « حنانه »
که خبرئې له احواله د حلاج(۱)

دا په خپله شو نن بیارا سره یار کج — که په بدو پوهېدلی دی اغیار کج
که په ناز سترګې کښې اړوی څه شو — مست له خیاله مدام ځی پرسمه لار کج
پراو ږوئې زلفی ځکه پېچ و تاب شوې — مخ په پورته چه ځی هر کله وی بار کج
چه یار یار شو له رقیبه صبر بویه — ولی کېږی په تلوار سره سم کار کج
چه بخت کج شو فلک کج شو یار مې کج شو
خدای دې نه کاندی د چاواړه روزګار کج

(۱) ښائی چه دا به علاج وی

کې شکوه کوم له جوره راته ښائی
ګیله هلته کړی نو کرچه شی با دار کج

چه مزری ئې دهجران راغی ناګاه
له هیبته ورته شود «حنان» وار کج

(ح)

راشه پرېږده دد نیا روزګار قبیح
په لاس واخله دنبی (ص) ددین تسبیح

له غیبته له بهتا نه ځان نګاه کړه
کلمه وا یه په ښه زبان فصیح

ځان دخدای بې یاده مکړه څوژوندی ئی
هلته نه شی چه اجل دې کا ذبیح

که ځای غواړې دآسمان پربام دپاسه
له دنیا کړه مینه پرې لکه مسیح

دغفلت له خوبه ویښ شه صبح ګاه ته
دفیاض باران اورېږی په ترشیح

مشغول نشوې یوزمان دخدای په ذکر
ځان دی کړ په بېهوده ویل جریح

دا ګوهر به دې په کارشی کې (۱) په غوږ کړې
در ته وکړه «حنان» څه ویل ملیح

(خ)

خوږ ژوندون راپوری هسی کړ هجران تریخ
لکه حال وی پربند یا نو دزندان تریخ

نوخطان چه دعاشق له ژړا بدوړی
پرسبزه باندی بی وخته وی باران تریخ

---

(۱) دکه ئی مخففه دی

په‌وصلت کښې له رقیبه نـه خلا صېـږم
پر موسم د گل اوقات شی د باغبان تریخ
می حرام دی په مجلس کښې چه یار نه وی
بې له گله و بلبل ته شی بوستان تریخ
چه مې نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست
لا تر اوسه مې په هغه دی دهان تریخ
که فرها دو ته شیرین غم د شیرینی
داستاغم کړ شیرین عمر پر «حنان» تریخ

﴿خ﴾

ستاد لبو و شربت ته شهد و ناب هېڅ
په ښایست دې ور خسار ته دی آفتاب هېڅ
چه دې تاب دد یدن نلرم حیران یم
ستا دیدن د پاره هو مره اضطراب هېڅ
چه په می دې د مخمور و ستر گو مست یم
نشته کیف دا نگور و د شراب هېڅ
خط ایات مخ دې کاغذ شونډی دې وقف
ستا تر مخ پورې دی شغل د کتاب هېڅ
چه دی و و یشتم په غشو د مژگانو
اوس که کړې را ته د زلفو پېچ و تاب هېڅ
دا ر نرگس خجل کړه د استا ستر گو
وصفا ته د جبین دې دی مهتاب هېڅ

پر مرگ پروت دی ستاله غمه که ئې گورې
د «حنان» په رنگ به نه وی بل خراب هېڅ

د

د نو خطو په یاری کښې نشته سود
ستر گې ولې د ځان باسې په داد ود

دا چه نن له مغرور به سم نه گوری — پښېمانی له بې(۱) خطار اولی زود
بیا به نه را ځی رقیب د یار و در ته — و جنت و ته لا رنشته د مردود
چه عاشق و ته له منع د عشق وای — گویا مست هوښیار وی په ساز سرود
چه تفریق د دوو یارا نو سره کاندی — همېشه به په لعنت وی مخ کبود
چه بندی شی په کمند د تورو زلفو — نه خلاصېږی په اورا داو په درود

مجله کابل •

د یار هجر چه توک توک نکړې «حنانه»
حیرانېږم، له څه روغ دی ستا وجود

ای چه ئې د عاشقانو دل پسند — نو ربا یده دی د عاشق سره پیوند
چه مې نوم ستا د شیرینو لبو وا خیست — لا تر اوسه مې شیرین دی د خولې خوند
که په خیال کښې ستا د لبو مړ شوم ښائی — که مې خاوره د گور خوندو که د قند
چه هوا شوه ستا د زنی را ولاړه — یاد مې نکړه ځکه سیب د سمرقند
دا تور خال پر گلگون مخ د آشنا نه دی — چشم زخم ئې پر اورا ښی دې سپند
چه پر غوږ ئې بد لگېږی زما پندونه — نه پوهېږم بیا ئې وا خیست د چاپند

د وصال ښادی کې(۲) نور و ته رسېږی
زه «حنان» ئې یم په غم سره خورسند

---

(۱) د به ئې مخفف دی (۲) د که ئې مخفف دی.

که هوا کړی د خوبانو د ساعد
له زړه و باسه کلی خیال فاسد
دا کو تره د حرم ده ښیښه نه ده
چه و وینو ته ئې تېزی دی زاهد
تر مادی پر یار عاشق ؤ خبر نه وم
ما و یار ته خوشی و لېږه قاصد
د ګدای رزق څه دسپی په غپا نه ځی
زما له بابه څه خبری کړی حاسد
قتلوه می خون می نه غواړی له تا څوك
په هغه جهان کوم ګواه دی کوم شاهد
مستحق د رحم مو نېز چه ګناه ګار یو
که جنت په عبادت ګټی عابد
همېشه کړی په دا فخر فرخ رویه
چه «حنان» رنګه عاشق لرم حامد

چه قاصد را ته راوړی دی کاغذ
زړه ئې زما له ځایه وړی دی کاغذ
چه می شرح د هجران پکښی لیکله
دایه داچه راڅه (۱) ستړی دی کاغذ

---

(۱) راڅه: دراڅخه مخفف دی .

هیڅ ځواب ئې بیا رانغی وما خوار ته
چه هر څو می چاور وړی دی کاغذ
دیار وصل می نصیب په دنیا نشو
هجر هسی پر ما کړی دی کاغذ
هسی نه چه په احوال می خبر نه دی
ورته حال ویلی سپړی دی کاغذ
په نامه کښی چه می نوم وینې له درده
هغه دم ئې پاره کړی دی کاغذ
که روح ورکړی په دازړی «حنان» ښائی
چه قاصد ورته راوړی دی کاغذ

که څوك ما پوښتی چه څه دی د عشق زور
بل څه نه دی کړېده دی په سره اور
په لحظه له نام ونګه سړی باسی
پر وا نکوی په شرم په پیغور
کله هسې اور پربل شی توان ئی نه وی
کله هسی افسرده شی لکه سکور
کله دم وهلای نشی خاموش کښینی
کله وی چه شی دخیال پر براق سپور
اخته مشه هیڅ سړی د عشق په خوږو
چه دوا ئې نه په پلار شی نه په مور

احتیاج د زمانی هسی بلا ده
و دلاك ته پادشاه کښېنوی سر تور
نن لوېدلی دی «حنان» د عشق په بند کښی
خدای دی وژغوری له دی گردابه نور
دا د خط سبزه ښکاره شوه پر عذار
که سر لوح د قرآن ده په زنگار
پرور والوزه نسیمه پر دالوری
د یار مخ د گل په بوی نکړې آزار
دا چه سترگی د زنځیر راته کښزی شوی
زړه می دی د کومو وزی طلبگار
چه تشبیه می ستا د خولی او د غونچی گړه
په دغه وینا مدام یم شرمسار
د ملا خیال دی لکه موی هسی ضعیف کړم
چه ځواب دی د مېږی راته د شوار
که پښې کښېږدی د بلبل پر ستر گو باندی
پښې بې زخم شی د خیال د گل په خار
تو ری زلفی په رخسار وینم «حنانه»
که ماران پر گل پر انه دی لوی سهار
پر رخسار باندی خال نه دی د جانان تور
خانه زاد غلام د دغه خانه دان تور

پر ګردن ئې ول ولندې پرتې زلفې
پر چندن دې ګرزېدلې ښامارانې تور
د کاکل ئې چه کمال استادې ده
چه ئې بخت زما په شان کړ دخپل ځان تور
که سخت زړه مې کړ فلك ترمومه نرم
ما هم کړ دزړه په دود سره آسمان تور
د لاله په دودتور داغ مې پر زړه ایښې
و غمزې ته ستا په دا چه وې نښان تور
دا تور مارپرسپین صندل دې جار و تلې
که ئې ایښې دې په غاړه کښې غیتان تور
آ هو چشمو څه په و کړه نه پوهېږم
لکه ستر ګې ددوې بخت شو د «حنان» تور
الف قد لا له خد ګل ر خسار
سنبل موی عنبر بوی کج ر فتار
شکر لب سیم غبغب پر غضب
سیم اندام غونچه فام جفا کار
آ هو چشم اندام یشم دك له خشم
موی کمره خوش نظره ګل عذار
مشکین خال خوش خصال د زړه خیال
فقد سم د زړه دم و فادار

ماه جبین ډك له كین تن سیمین
په زړه سخت زما بخت لا له زار
زنخ سیب ډك له فریب د باغ زیب
خوش لقب خوش ادب خوش روزگار
موی میان كج مژگان میم دهان
در دندان له «حنان» شوی بیزار
دا كاكل پر رخسار نه دی د دلدار
دی د مخ و گنج ته پروت د طلسم مار
دا دورو څو تیغ كې (۱) زخم پر زړه كیږدی
شوخ كاته ئې بیا ملهم زدی پر پرهار
كه یار گوری له حیا و خپلو پښو ته
با نو گان ئې په هر زړه دی خبردار
و طالع ته ئی د زلفو كبا بیږم
چه هر دم ئې تماشی كه د رخسار
و سرو پښو ته ئې سجده زلفی پیدا كه
د هندوانو وی له اوره سرو كار
پیچو تاب ئې شو كاكل په دا «حنانه»
چه ئې تاب د كمر ولیده دیار

---

(۱) د كه ئې مخفف دی .

نادان نشی کړ ای سخن لکه هوښیار

د و یده نفس جدا و ی تر بیدا ر

عیش می تر بخ دی دجهان په باغ کښې هسی

لکه ډك وی جام د زهر و د کو کنار

مردودنه در ومی دعشق له دره هېڅوك

د غه ا و ر نکه لد ی خا شا که عار

غافل هېڅ فیض دیارله مخه نه و ړ ی

مفلس تېر شی په خالی لا س تربا زار

پټه خو له غونچه بلبل په نار و سر که

مستمع صا حب سخن که په ګفتا ر

که له ورځی دجزا بیم کړی «حنانه»

تو ئیده د او ښو خوی کړه په سهار

چه له زړه می صبر لاړ له ستر ګو نو ر

کوم شوخ چشم کړ ثبات را څخه چور

دا په غم د کوم ګل رخ هسی ابتر یم

چه ګاه زړشم ګاهی شین شم ګاهی سور

دا د چاد لب د میو په آ ر ز و کښی

چه تنها کی می د زړه لکه انګور

که هر خو زړه دروی دراوه نشی
دژړا سیلاب اخستی وی مهجور
همیشه د آتشین رخسار له شوقه
دکه وړم سینه په اور لکه تنور
احتیاج که درقیب کوم ښائیږی
نا روا بولی روا چه شی ضرور
چه په عشق کښی سرومال ساتی له ترکو
نه پوهیږم زه «حنان» په دا دستور
هومره بخت ښائي له کومه زما له سر
چه ئي کښیږدم پر چار چوب داستاددر
زړه مي اور لړونی دی له مخه دسیځلو
اور نه ګوری په ځنګله کښی خشك وتر
که عاشق له خلقو لیری ګرزی ښائی
زخمی نشی تلای له سیله برابر
لدي خیله زړه ګیله کړم دیره دیره
چه دیار کوڅی ته ئی ني (۱) کړم خبر
نیك بختی په سعی نده تمام عمر
که پر سر باندی ترې دهمای پر
چه دحسن بحر ئي موج واهه «حنانه»
توئي کړه پر کناره د خط عنبر

---

(۱) دنه ئي مخفف دی

چه د ځان په سود دي نه ئې هېڅ خبر
ملا مت نه ئې په ځان نه ئې خبر

و من یعمل مثقال ذرة دی
له غروره په قرآن نه ئې خبر

ددنیا په عیش دی هغه عیش پرې نبود
چه په حور، قصور، غلمان، نه ئې خبر

څه قصرونه څه عالم ئې کړ و بجا ر
له کردشه د آسمان نه ئې خبر

بې بها عمر، دې خوشی د ځان تېر کړ
هیڅ په کران او په ارزان نه ئې خبر

د منکر نکیر ځواب به څه شان و کړی
چه په دین او په ایمان نه ئې خبر

لاتر کومه بې پروا کرزې «حنانه»
نه له قهره دبز دان نه ئې خبر

دا پر مخ د صنم خط دی که تحریر
که مصحف دی چه پر کښلی دی تفسیر

د زړه مراد می حاصل نشو په ډېر صبر
چه کهنه شی دوا نه لری تاثیر

داد چا دز لفو خیال می په زړه کرزی
چه کښې شوی را ته ستر کی د زنځیر

چه بې فهمه ئې شانه له زلفو منبلی
زړه مې شل شکا فه شی په دغه و یر
ستا بانو په زور دو روځو ادا نکړم
کاری نه منبلی د سستې لېندی تیر
هاله شی بتان نامید چه خط ئې راشی
لاس په تخر ګ نما ښام و نیسی فقیر
هیڅ تعریف ئې دخولی نشم کړای «حنانه»
په څه شان ئې تر خوله و باسم تقریر
څه ویلی دی رقیب قلیل کثیر
چه ئې رنګ له ډېره قهره دی تغیر
کوم انصاف کوم مروت دی نه پوهېږم
چه په ګفت مې د رقیب لری زهیر
که د زړه له درده چاوته فریاد کړم
ډېر معذور یم را ته تیر شه تر تقصیر
د عاشق له ساره آهه پر هېز بویه
ژر ژر کېږی ددغې دعا تاثیر
چه دی خیال دزلفو کړم هومره پوهېږم
چه وینبو ته به مې و ولیږی زنځیر
ما هر دم د عقل غل د لارې بیا ئی
که مې نشی دا د عشق پیر دستګیر

ظلم و جور قبلوه د یار «حنا نه»
د خپل یار له لا سه مه او سه د لګیر

خیال دور و ځوئي له ما شو په ارمان تېر
لکه غشی دلېندۍ شی تر نښان تېر

د صورت ښادی مې یوړه ډېرو او ښو
لکه شی پر آبادی باندی طوفان تېر

دا ستا حسن مې دلمره سره تول کړ
په میزان کښی ځکه لمر شو تر آسمان تېر

جذ به د عاشقۍ نده نو څه ده
وسره اور ته چه پتنګ شی تر خپل ځان تېر

پر رخسار دی تور خط هسی چاری و کړی
لکه چېر ته شی مو سم د ار غوان تېر

دا غبار ئې د خط ندی چه ښکار ېږی
ګرزشو پاته چه د حسن شو کاروان تېر

د آشنای د قدم خاوری ئې توتیاده
که له نازه شی پر ستر ګود «حنان» تېر

ښایسته کړه د نیکۍ په افسر سر
نشی خوب د بېغمۍ پر بستر تر

پیر وی هره ګړۍ د هغه بو یه
چه ئې خاوری د بید یا وی په ګذرزر

چه دلی د عوایق له باره خلاص شی

و هغو ته به آسان شی د محشر شر

پر کبلیو باندی رحم د سپی نشته

د رقیب لا سو نه مه شه پر دلبر بر

چه تشبیه ئې کړه له قده د گل رخو

لحکه نلری په باغ کښی صنو بر بر

چه ئې زلفی کړی الفت له ما په دادی

د مارانو لحای وی تل د یارو گر گر

حذرخوو کړی «حنان» دعشق له ناره

چه مدام وی داور خلاص پرسمندر در

مجله کابل ۰۵۸

خو به کړی پرآس د عشق جولان د شعر

نه طی کیږی په رفتن میدان د شعر

چه ئې وو هی بر ښناد یار د هجر

تل او ریږی پر هغو باران د شعر

چه حواس متفرق که د یارجور

د هغو شی برابر میزان د شعر

خو زړه چاك لکه قلم نه که په عشق کښی

په لاس نه ورځی هرگز گریوان د شعر

د زخمی زړو نوخو ناب دی بل څه ندی

خوك چه کاندی په تکلیف سامان د شعر

د انسان مینه گاه بحر گاهی بر شی
مدام نه وی آر استه د کان د شعر
فکر خیال دیار دخولی وایه «حنانه»
چه شیرین دی وی مدام د یوان دشعر

ر

بدخوی یار پر تندی چین وواهه ولاړ
په هر چین کښی ملك د چین وواهه ولاړ
دا دبه خو کړم دبې رحم یار له جوره
پر سینه می داغ د کین وو اهه ولاړ
څه پو ښتنی له خدنگه د غمزی کړی
چه پر زړه ئې حزبن وو اهه ولاړ
د هغه شوخ له تا را جه به څه وا یم
چه ئې کور زما د دبن وو اهه ولاړ
چه سیالی کړه بنفشه د یار له خطه
ژر خزان پر نور وسپین وو اهه ولاړ
له چامه شه دښمنی د شوخ چشمانو
چه ئې زړه ز ما مسکین وو اهه ولاړ
په قیامت چه خدای قاضی شی حق به غواړی
تا په تیغ «حنان» سنگین وواهه و لاړ
د یار غم را باندی هسی رنگ شبخون کړ
چه له درده می پاره پاره لړمون کړ

ښاغلی دوست شینواری:

## لوی څښتنه!

یا سترګی رانه واخله تش نظر مه را کوه
یا اوښکې ورسره کړه سوړ ځیګرمه را کوه

دنیادی کړه جنت خود غریب وینې شراب شوی
حرام په ما حرام کړه دا کوثرمه را کوه

یوه مینه می بس ده انسانی سلوک د پاره
جهان د سوز ولو خیال هنرمه را کوه

یا هرڅه په تقدیر کړه یا خوما پریږده تدبیر ته
تقدیر او د تدبیر مینځ کښی خطرمه را کوه

احساس می ارام پریږده «لا تخف» مه رانه وایه!
یا زړه کښی راته خوف دزورورمه را کوه

منم چه سر هغه وی چه بې تا تیټ نشی چا ته
فرعون ته چه تیټیږی هغه سر مه را کوه

یا اوښکې زمانیل کړه چه فرعون په کښی غرقیږی
یا تش دمظلومی په مخ اثر مه را کوه

یا ګیډه رانه واخله یا می خلاص کړه مخمصې نه
فتوی د دریدو د بل د درمه را کوه

طاقت دې دباز را کړ په پنجره کښی دی حصار کړم
فضا کړه را ته خلاصه یا وزرمه را کوه

# د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالونه او ژور فکرونه ـ د کل پاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داور لمبې د ښاغلی خیبری اثر یو جلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه د اقبال په نظر کښې د ښاغلی بختانی تدوین یو جلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلی الفت اثر یو جلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یو جلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : د پښتو نثرونه د محمد دین ژواك تدوین ..

۷ : پریشانه افکار : د ښاغلی بینوا یو جلد په (۸) افغانۍ

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځی کښې موجود دی .

- 2 AUG 9
Copy _____ 1957

# کابل مجله

دا مجله د پښتو په خوازه ادب ادبی تنده ماتوی .

دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ یوازینۍ وسیله ده.

دا مجله د تیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوی.

تاسې کولای شیء چه دا تنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د ننه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلداری په نورو د باندنیو هیوادونو کښې په (۳) دالره ماته کړیء

د ښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې د همدی مؤسسې د جاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کیږي.

مطبعهٔ دولتی